# د غیر مقلدینو اعتراضونه

## او د هغوی جوابونه د احنافو د دلایلو سره

**مؤلف:**
مولانا احمد علي شیخ (شهداد کوټ)
(فاضل جامعة العلوم الاسلامیة علامه بنوري ټاون کراچي)

**ژباړن:**
احمد زاهد (قندهاري)

# د غیر مقلدینو اعتراضونه

## او

## د هغوی جوابونه د احنافو د دلایلو سره

**تالیف:**
مولانا احمد علي شیخ (شهداد کوټ)
(فاضل جامعة العلوم الاسلامیة علامه بنوري ټاون -کراچي)

**ژباړن:**
مولوي احمد زاهد (قندهاري)

**د دې کتاب ټول حقوق د خپرندويې ټولنې سره خوندي دئ!**

# د کتاب پېژند پاڼه:


- د کتاب نوم : ............د غیر مقلدینو اعتراضونه
- لیکوال :.مولانا احمد علي شيخ (شهداد کوټ)
- ژباړن :........مولوي احمد زاهد (قندهاري)
- کمپوز او ډيزاين : ........پوهه خپرندويه ټولنه / کندهار
- خپروونکی :........پوهه خپرندويه ټولنه / کندهار
- د چاپ شمېر :..............................(۱۰۰۰)
- د چاپ کال : ...............۱۳۹۲هجري لمريز کال
- د چاپ وار :.........................لومړی ځل
- د خپروني لړ :...............................(۲٦)
- اړيکه :........................۰۷۰۷۲٦۲۰٦۵
- ایمیل :.............. *ppa_2011@live.com*



**د تعلیم الاسلام راډیو د ویب پاڼې له خوا**
**www.Taleemulislam-radio.com**

# د مضامینو فهرست


| شمېره | لړلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱. | د خپروونکی یادښت.................... | ۸ |
| ۲. | سر ټکي ............................ | ۹ |
| ۳. | د جمعې د لمانځه لپاره دوه اذانونه .............. | ۱۲ |
| ۴. | د اقامت الفاظ هم د اذان په ډول دوه دوه دي ....... | ۱۲ |
| ۵. | د یوې یوې کلمې والا اقامت حقیقت .............. | ۱۵ |
| ٦. | په لمانځه کي تر نامه لاندي لاس تړل............... | ١٦ |
| ۷. | پر ځیګر د لاس تړلو روایتونه او د هغو لنډ جوابونه. | ۱۸ |
| ۸. | د امام په اقتداء کي قرآئت نه ویل.............. | ۲۰ |
| ۹. | سورة فاتحه هم په قرآئت کي شامله ده........... | ۳۲ |
| ۱۰. | د قرآئت خلف الامام په باره کي د صحابه کرامو فتوا | ۳۳ |
| ۱۱. | د قرآئت خلف الامام په اړه د لویو تابعینو فتوا ..... | ۳۷ |
| ۱۲. | د غیر مقلدینو د قرآئت خلف الامام په اړه دلایل او د | ۳۸ |
| ۱۳. | د خبرو پای .......................... | ۴۷ |
| ۱۴. | "آمین" کرار ویل..................... | ۴۸ |

۱۵. په زوره د آمین ویلو د دلایلو جوابونه ........ ۴۹
۱۶. رکوع ته د تلو او د رکوع څخه د را پورته کېدو په ... ۵۰
۱۷. د صدیق اکبر رضی الله عنه عمل ........ ۵۵
۱۸. د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه عمل ........ ۵۶
۱۹. د حضرت علي کرم الله وجهه عمل ........ ۵۶
۲۰. د عبدالله بن عمر رضی الله عنه عمل ........ ۵۷
۲۱. د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه عمل ........ ۵۷
۲۲. د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه عمل ........ ۵۷
۲۳. د حضرت عبدالله بن مسعود او حضرت علي رضی الله عنهما د ۵۸
۲۴. وتر درې رکعته یو ځای کول ........ ۵۹
۲۵. د رکوع څخه مخکي دعا قنوت ویل ........ ۶۳
۲۶. په وترو کي باید کوم قنوت وویل سي؟ ........ ۶۵
۲۷. تراویح شل (۲۰) رکعته دي ........ ۶۶
۲۸. د اتو (۸) رکعتو تراویحو دلایلو ته لنډه کتنه ........ ۷۲
۲۹. د سهار د فرضو څخه وروسته د لمر د راختو څخه .. ۷۴
۳۰. د جنازې په لمانځه کي سورة فاتحه لوستل ........ ۷۴
۳۱. د نارینه او د ښځي په لمانځه کي فرق ........ ۷۷
۳۲. د نابالغ امامت ........ ۷۸
۳۳. په یوه مجلس کي درې (۳) طلاقه ورکول ........ ۷۹
۳۴. د غیر مقلدینو د دلایلو جوابونه ........ ۸۳
۳۵. د قربانۍ یوازي درې (۳) ورځي دي ........ ۸۵
۳۶. په دواړو لاسو د روغبړ کولو ثبوت ........ ۸۶
۳۷. مخلوق ته "مولانا" ویل ........ ۸۸
۳۸. په سورة الحج کي یوازي یوه لومړۍ سجده ده ........ ۸۹

۳۹. د غیر مقلدینو د دوا ړو دلایلو جوابونه............ ۹۰
۴۰. د خصي حیوان قربانۍ روا ده ...................... ۹۱
۴۱. د قضاء حاجت په وخت کي قبلې ته مخ یا .......... ۹۲
۴۲. تقلید شخصي واجب دئ ........................ ۹۳
۴۳.پای ................................ ۹۵
۴۴.ماخذ و مراجع .................................. ۹۶


بسم الله

# د خپرونکي یادښت

اِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ وَ اَسْتَعِیْنُهُ وَ اَتَوَکَّلُ عَلَیْهِ، وَ الصَّلاَةُ عَلٰی نَبِیِّ الْعَرَبِیِّ مُحَمَّدٍ ﷺ، وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الَّذِیْنَ هُمْ بَارَزُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَ عَلٰی عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِیْنَ. اَمَّا بَعْدُ!

درنو لوستونکو!

لکه څنګه چي تاسو پوهېږي چي په نني وخت کي د غیر مقلدینو لخوا ډېر اعتراضونه پر احنافو او پر څلورو امامانو ترسره کېږي، چي په ترڅ کي ئې عام ولس چي د پوهي کچه ئې ټیټه ده په لوي تشویش او جنجال کي اخته کړي دي. د دوی د اعتراضونه څخه د خلاصون په هیله "مولوي احمد زاهد قندهاري صاحب" همدا کتاب "د غیر مقلدینو اعتراضونه" د اردو ژبي څخه و پښتو ژبي ته ژباړلی دئ. الله تعالی دي ژباړن او د ده ټولو مرستندویانو ته د دې لوي خدمت اجر ورکړي او الله تعالی دي دا کتاب د قبولیت و درجې ته ورسوي. الله تعالی دي ژباړن ته نور وس ورکړي چي همداسي د ولس په خدمت کي واؤسي، موږ ورته لاس په دعا یو چي الله تعالی دی د خپل دین د خدمت لپاره یو ستره وسیله وګرځوي. (آمین)

هیله ده چي دا کتاب د لوستونکو د پوهي د سطحي لوړولو لپاره یوه وسیله وګرځي او د ګرانو لوستونکو څخه هیله کوو چي د هر ډول تېروتنو په هکله د ادارې څخه خپل نظر و نه سپموي.

په همدې هیله
د پوهي خپرندویي ټولني اداره

# سرېکي

*بسم الله الرحمن الرحیم*

*نحمده و نصلی علی رسوله الکریم، اما بعد !*

په نني عصر کي د کفر او الحاد توپانونه په نوي نوي شکل کي پیدا کېږي. احادیث د اعتماد وړ نه بلل کېږي، په قرآن کریم کي ډول ډول د تحریف معنوي ارادې لیدل کېږي په داسي حال کي هیڅ یو د خدای څخه وېرېدونکی، شعور لرونکی او د علم خاوند ته دا پکار نه ده چي هغه د دې فروعي مسایلو بحثونه را تازه کړي او په مسلمانانو کي یوه ډول فتنه پیدا کړي. مگر افسوس چي غیر مقلدینو چي خپل ځانو ته "اهل حدیث" یا "جماعة المسلین" وایي د دغو خلکو فکرونه، کوښښ، دعوت یوازې دې کي خرڅېږي چي حنفیان گمراه، بې لمانځه تر دې چي کافران او مشرکان ئې وگرځوي.

په خاصه توگه خو د "جماعة المسلمین" ډله د خپلو پلویانو څخه ماسېوا د ټولي نړۍ مسلمانانو ته کافران وایي او تر دې چي د کعبې امام هم مسلمان نه گڼي، د حج او د عمرې په وخت کي د کعبې په امام پسي اقتداء نه کوي. غیر مقلدینو په خاصه توگه د رفع الیدین، آمین بالجهر، قرآئت خلف الامام او د تقلید په مسئلو کي خلک سرگردانه کړي دي.

د دې برعکس زه نه يم خبر چي يو وخت زموږ سُني دي غير مقلد ته ورغلي وي او هغه ته دي ويلي وي چي ستا لمونځ نه صحيح کېږي او هغه دي ئې په وهم کي اچولی وي. تبليغيان چي يو بې لمانځه پر لمانځه راولي او هغه لمونځونه شروع کړي نو غير مقلدين ورسي هغه ته وسوسې وراچوي چي ستا لمونځ نه صحيح کېږي زه د غير مقلدينو د دې حرکت څخه ډېر گيله من يم.

د غير مقلدينو دا عادت دئ چي د خپل مذهب خلاف هر حديث ضعيف بولي. حقيقت دا دئ چي د دوی خپل دلايل اکثره د ضعيفو حديثو څخه دي. کله داسي وي چي زموږ په دليل کي په ډېرو سندو کي په يو سند کي يو راوي ضعيفه وي نور سندونه ټوله صحيح وي نو دی پر هغه ضعيف سند باندي ډېر بحث کوي چي دا حديث ضعيف دئ.

د لوستونکو او په خاصه توگه د غير مقلدينو څخه دا هيله کوم چي دا خبره په ښه غور واؤرئ چي امام ابوحنيفة رحمه الله په ۸۰ هـ کال کي زيږېدلی دئ او په ۱۵۰ هـ کال کي وفات سوی دئ. امام صاحب رحمه الله تابعي وو، د ډېرو صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه ئې حديثونه اورېدلي دي که چيري يو حديث ضعيف وي د راوي د ضُعف په وجه هغه راوي د امام صاحب رحمه الله د زمانې څخه ډېر وروسته وي نو امام صاحب رحمه الله خو د دې ضعيفه راوي څخه روايت نه دي کړی له همدې امله نو هغه حديث د امام صاحب رحمه الله په دور بالکل صحيح دئ.

د صحاح سته محدثين (امام بخاري، امام مسلم، امام ابو داؤد، امام ترمذي، امام ابن ماجه، امام نسائي رحمة الله عليهم) دوی تر امام صاحب رحمه الله وروسته راغلي دي امام صاحب رح د دوی ټولو څخه مخکي دئ او د "خير القرون" د زمانې دئ.

د یو څو غیر مقلدینو څخه مو دا هم اورېدلي دي چې صحیح حدیثونه یوازې د صحاح سته په خاص ډول د بخاري او مسلم حدیثونه دي. که یو څوک پر خپل مسلک باندې د دې خلاف یو داسې حدیث خپل دلیل وګرځوي چې هغه د صحاح سته څخه علاوه په یو بل معتمد کتاب کې وي نو دوی په دې وینا سره د هغه حدیث د منلو څخه انکار وکړي چې د دې ذکر په صحاح سته کې نه سته، په حقیقت کې دا خبره غلطه ده. دا خبر خو حقیقت ده چې د صحاح سته اکثره حدیثونه صحیح دي لیکن دا خبره ګرسره غلطه ده چې ټوله صحیح حدیثونه په صحاح سته کې دي او بس. داسې نه ده بلکې د حدیثو په نورو کتابو کې هم د مستندو روایتو لویه ذخیره موجوده ده.

د ډېرو مشکلاتو سره سره ما دا فکر وکړي چې یو داسې مختصر کتاب ولیکم چې په هغه کې د غیر مقلدینو سره پر هغه خاصو مسایلو باندې بحث وسي او هر مسئله مختصره او دلیل ولري. د قناعت خاوندانو ته خو یو دلیل هم بس دئ او نه منونکو ته خو قرآن او حدیث هم کفایت نه کوي. په دې رساله کې موږ په ډېر ښایسته انداز باندې پر دغو مسئلو باندې مختصر او مدلل بحثونه کړي دي، هیله کوم چې ستاسو د خوښې وړ وګرځېږي.

*و ما توفیقی الا بالله*

*د دعاء په هیله*

*احمد علي شیخ شهداد کوټ (سندھ)*

*(فاضل جامعة العلوم الاسلامیة علامه بنوري ټاون، کراچي)*

# د جمعې د لمانځه لپاره دوه اذانونه

**دلیل:**

عَنِ الزُّهْرِی رَحِمَهُ اللهُ قَالَ: سَمِعْتُ السَّائِبَ بْنَ یَزِیْدِ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ یَقُوْلُ اِنَّ الْاَذَانَ یَوْمَ الْجُمُعَةِ کَانَ اَوَّلُه حِیْنَ یَجْلِسُ الاِمَامُ یَوْمَ الْجُمُعَةِ عَلَی الْمِنْبَرِ فِیْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَاَبِیْ بَکْرٍ وَ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا فَلَمَّا کَانَ فِیْ خِلَافَةِ عُثْمَانَ وَکَثُرُوْا اَمَرَ عُثْمَانُ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ یَوْمَ الْجُمُعَةِ بِالْاَذَانِ الثَّالِثِ فَاُذِّنَ بِهِ عَلَی الزَّوْرَاءِ فَثَبَتَ الْاَمْرُ عَلٰی ذٰلِکَ. (بخاري، ج: ۱، ص: ۱۲۵. قدیمي کتب خانه)

ژباړه: حضرت سائب بن یزید رضي الله عنه فرمایي: چي مخکي به اذان د جمعې مبارکي په ورځ هغه وخت کېدي چي امام به پر منبر کښېنستي، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم، حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر رضي الله عنهما په زمانه کي همداسي کېده. بیا چي د حضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه کي مسلمانان ډېر سول نو حضرت عثمان رضي الله عنه د جمعې په ورځ د دریم اذان (د اقامت سره) حکم وکړي. د دې څخه وروسته پر "زرواء" نومي ځای باندي اذان وسو او بیا همدا اصطلاح وګرځېدله. (چي په هر ښار کي به مسلمانانو د جمعې په ورځ دوه آذانونه کول)

# د اقامت الفاظ هم د اذان په ډول دوه دوه دي

د احنافو په نزد د اقامت کلمې اوولس (۱۷) دي. د اذان په شان اقامت هم دوه دوه ځله ویل کېږي یوازي په اقامت کي د "قد قامت

الصلوة، قد قامت الصلوة" اضافه کېږي او همدا د حضرت بلال ﷜ اقامت دئ او دا اقامت به په نبي کریم ﷺ پسي کېدي. امام بخاري، امام مسلم، امام ابو داؤد، امام نسائي ﷭ او د امام ابن ماجه ﷫ استاذ امام ابوبکر بن ابی شیبه ﷫ هم په خپل کتاب "مصنف ابن ابی شیبه" کي همدا روایتونه را نقل کړي دي.

**۱- دلیل:**

اِنَّ بِلَالًا ﷜ کَانِ یُثْنِی اْلاذَانَ وَالْاِقَامَةَ.

(مصنف ابن شیبه، ج:۱، ص: ۲۳۴، مکتبه امدادیه ملتان)

ژباړه: حضرت بلال ﷜ به د اذان او اقامت کلمې دوه واره ویل.

**۲- دلیل:**

عَنِ الْاَسْوَدِ ﷫ عَنْ بِلَالٍ ﷜ قَالَ: کَانَ اَذَانُهُ وَ اِقَامَتُهُ مَرَّتَیْنِ مَرَّتَیْنِ. (مصنف عبد الرزاق، ج:۱، ص: ۴۶۳. بیروت)

ژباړه: د اسود ﷫ څخه روایت دئ چي د حضرت بلال ﷜ د اذان او اقامت کلمې دوې دوې وې.

**۳- دلیل:**

عَنِ الرَّبِیْعِ بْنِ قَیْسٍ ﷫ اَنَّ عَلِیًّا کَانَ یَقُوْلُ: اَلْاَذَانُ وَ الْاِقَامَةُ مَثْنٰی. (مصنف ابن ابی شیبه، ج:۱،ص:۲۳۴)

ژباړه: د ربیع بن قیس ﷫ څخه روایت دئ چي حضرت علي کرم الله وجهه به د اذان او اقامت کلمې دوه دوه ځلي ویلې.

**۴- دلیل:**

کَانَ عَبْدُاللهِ بْنُ زَیْدِ الْاَنْصَارِیُّ ﷜ مُوَذِّنَ النَّبِیِّ ﷺ یُشْفِعُ الْاَذَانَ وَ الاِقَامَةَ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ص: ۲۳۴)

حضرت عبدالله بن زید انصاري ﷛ د نبي کریم ﷺ مؤذن وو، د اذان او اقامت کلمې به ئې جوړه (دوې دوې) ویلې.

**۵- دلیل:**

اَنَّ سَلْمَةَ بْنَ الْاَ کْوَعِ ﷛ کَانَ یُثْنِی الْاِقَامَةَ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج:۱، ص:۲۳۴)

حضرت سلمه بن الاکواع ﷛ د اقامت کلمې دوه ځلي ویلې.

**٦- دلیل:**

عَنْ اِبْرَاهِیْمَ قَالَ: الاذان والاقامة مثنی مثنی. (کتاب الاثار، ص: ۲۱)

حضرت ابارهیم نخعي ﵀ فرمایلي دي چي اذان او اقامت دوه دوه واره دي.

**۷- دلیل:**

کَانَ اَصْحَابُ عَلِیٍّ وَ اَصْحَابُ عَبْدِاللهِ ﷡ یُشْفِعُوْنَ الْاَذَانَ وَ الْاِقَامَةَ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۱، ص:۲۳۴)

ژباړه: د حضرت علي او د عبدالله بن مسعود شاګردانو ﷛ به اذان او اقامت دوه دوه ځله ویل.

**۸- دلیل:**

عبدالرحمن بن ابی لیلی عَنْ عَبْدِ الله بْنِ زَیْدٍ قَالَ: کَانَ اَذَانُ رَسُوْلِ الله ﷺ شُفْعًا شُفْعًا فِی الْاَذَانِ وَالْاِقَامَةِ. (ترمذی، ج:۱، ص:۴۸، قدیمي کتب خانه)

عبدالرحمن بن ابی لیلی د عبدالله بن زید څخه روایت کوي چي د رسول الله ﷺ (د مؤذن) اذان او اقامت دوه ځله وو.

اعتراض: وايي چي عبدالرحمن بن ابی لیلی د حضرت عبدالله بن زید رضي الله عنه څخه نه دي اورېدلي؟

جواب: په دار قطني کي راغلي دي چي حضرت عبدالله بن زید رضي الله عنه د حضرت عثمان رضي الله عنه تر خلافت پوري وو او عبدالرحمن بن ابی لیلی خو د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په دور کي لا هم وو.

# د يوې يوې کلمې والا اقامت حقيقت

په دې باره کي غیر مقلدین د حضرت بلال رضي الله عنه يو حدیث خپل دلیل ګرځوي په کوم کي چي اقامت يوې يوې کلمې والا ثابته وي. د دې حدیث لنډ جواب دا دئ چي د حضرت بلال رضي الله عنه څخه د دې متعلق دواړه قسمه روایتونه را نقل سوي دي يوې يوې کلمې والا هم او د دوو دوو کلمې والا هم څنګه چي مستدرک حاکم، طحاوي شریف، بیهقي، مصنف ابن ابی شیبه، مصنف عبدالرزاق او نورو د حضرت بلال رضي الله عنه څخه د دوو دوو کلمو والا اقامت روایت را نقل کړی دئ. نو اصل حقیقت دا دئ چي حضرت بلال رضي الله عنه په شروع کي پر يوې يوې کلمې والا اقامت باندي عمل کوي لیکن وروسته ئې پر دوو دوو کلمو والا اقامت باندي عمل شروع کړي ځکه چي ابوداؤد ص: ۷۳، ج: ۱، مکتبه ایچ ایم سعید کمپني. ترمذی ص: ۴۸، ج: ۱. نسائي، ص: ۱۰۳، ج: ۱. ابن ماجه، ص: ۵۲ کي د حضرت ابو محذوره رضي الله عنه څخه روایت دئ هغه فرمايي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته د اقامت اوولس (۱۷) کلمې (دوه دوه واره) ور وښوولې او حضرت ابو محذوره رضي الله عنه په ۹ هـ کي اسلام راوړي دي ځکه دا د دې ثبوت دئ چي حضرت بلال رضي الله عنه چي کوم اقامت کوي هغه پر اوولس (۱۷) کلمو باندي مشتمل وو، ځکه چي د

ده یوې کلمې والا اقامت د ده پخوانی عمل بلل کېږل او دوو کلمو والا اقامت ئې آخري عمل بلل کېږي په دې صورت کې په ټولو روایتونو کې تعارض ختمېږي.

# په لمانځه کې تر نامه لاندې لاس تړل

**۱- دلیل:**

عَنْ اَبِیْ جُحَیْفَةَ اَنَّ عَلِیًّا رضی الله عنه قَالَ مِنَ السُّنَّةِ وَضْعُ الْکَفِّ عَلَی الْکَفِّ فِی الصَّلٰوةِ تَحْتَ السُّرَّةِ. (ابو داؤد، باب وضع الیمنی علی الیسری حدیث: ٦۴۵)

ژباړه: حضرت علي کرم الله وجهه فرمايي: چې یو د سنتو څخه ورغوی پر ورغوی باندې په لمانځه کې تر نامه لاندې ایښوول دي.

**۲- دلیل:**

عَنْ عَلِیٍّ کرم الله وجهه قَالَ مِنْ سُنَّةِ الصَّلَاةِ وَضْعُ الْاَیْدِیْ عَلَی الاَیْدِیْ تَحْتَ السُّرَّةِ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۱، ص: ۴۲۷)

ژباړه: د حضرت علي کرم الله وجهه څخه روایت دئ چې د لمانځه د سنتو څخه یو لاسونه پر لاسو باندې تر نامه لاندې ایښوول دي.

**۳- دلیل:**

اَلْحَجَّاجُ بْنُ حَسَّان قَالَ سَمِعْتُ اَبَا مِجْلَزٍ رحمه الله اَوْ سَئَلْتَهُ قَالَ: قُلْتُ کَیْفَ یَضَعُ قَالَ بَاطِنَ کَفِّ یَمِیْنِهٖ عَلٰی ظَاهِرِ کَفِّ شِمَالِهٖ وَیَجْعَلُهَا اَسْفَلَ مِنَ السُّرَّةِ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج:۱، ص: ۴۲۷)

ژباړه: حضرت حجاج بن حسان وايي چي ما د ابومجلز رحمه الله څخه واورېدل يا مي پوښتنه ور څخه وکړل چي لمونځ کوونکي لاسونه بايد څنګه کښېږدي؟ نو هغه په جواب کي راته وفرمايل چي د راسته لاس ورغوی دي د چپه لاس د ورغوی پر پورتني (دباندني) حصه باندي کښېږدي او لاسونه دي تر نامه لاندي وتړي.

**۴- دليل:**

عَنْ اِبْرَاهِيْمَ قَالَ يَضَعُ يَمِيْنَهُ عَلٰى شِمَالِهٖ فِي الصَّلٰوةِ تَحْتَ السُّرَّةِ.
(مصنف ابن ابی شیبه، ج:۱، ص:۴۲۷، کتاب الاثار حدیث نمبر:۱۲۰)

ژباړه: حضرت ابراهيم نخعي رحمه الله فرمايي چي په لمانځه کي خپل راسته لاس پر چپه لاس باندي تر نامه لاندي ايږدي.

**۵- دليل:**

قَالَ اَبُوْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه اَخْذُ الْاَكُفِّ عَلَى الْاَكُفِّ فِي الصَّلٰوةِ تَحْتَ السُّرَّةِ. (اعلاء السنن، ج:۲، ص: ۱۸۲)

ژباړه: حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي چي لاس په لاس باندي نيول او بيا تر نامه لاندي تړل دي.

**٦- دليل:**

عَنْ اَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: ثَلَاثٌ مِّنْ اَخلَاقِ النُّبُوَّةِ تَعْجِيْلُ الْاِ فْطَارِ وَ تَاخِيْرُ السُّحُوْرِ وَ وَضْعُ الْيَدِ الْيُمْنٰى عَلَى الْيُسْرٰى فِي الصَّلٰوةِ تَحْتَ السُّرَّةِ. (الجواهر النقى على البيهقى، ج:۲، ص:۳۲، معارف السنن، ج:۲، ص:۴۴۴)

ژباړه: د حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چي دري خبري د نبوت د اخلاقو څخه دي: په روژه مات کي بېړه کول، په پېشلمي کي ځنډ يا

تاخیر کول او راسته لاس پر چپه لاس باندي په لمانځه کي تر نامه لاندي ایښوول.

# پر ځیگر د لاس تړلو روایتونه او د هغو لنډ جوابونه

پر ځیگر د لاس تړلو په هکله موږ دري روایتونه موندلي دي او هغه دري سره ضعیفه روایتونه دي.

**د غیر مقلدینو لومړی دلیل:**

د حضرت وائل بن حجر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي زه نبي کریم ﷺ ته هغه وخت ورغلم چي رسول الله ﷺ د مسجد پر لور روان وو، نبي کریم ﷺ محراب ته ور داخل سو او د تکبیر تحریمې لپاره ئې خپل لاسونه پورته کړل او راسته لاس ئې پر چپه لاس باندي پر ځیگر باندي کښېښووي. او همدا ډول د مؤمل بن اسماعیل په روایت کي راغلي دي چي حضرت وائل بن حجر رضي الله عنه فرمایي چي ما نبي کریم ﷺ ولیدي چي ده خپل راسته لاس پر چپه لاس باندي کښېښووي او بیا ئې دواړه پر ځیگر باندي کښېښوول.

**جواب:**

دا روایت متکلم فیه او ضعیف دئ؛ ځکه چي د دې روایت په سند کي محمد بن حجر منکر الحدیث دئ، د سنن کبری په حاشیه کي پر دې باندي ډېر زیات بحث سوی دئ او همدا ډول په دې روایت کي پر راوي مؤمل بن اسماعیل هم سته چي د محدثینو په نزد ضعفیه دي. لکه څنگه چي امام بخاري رحمه الله د ده به باره کي فرمایي: چي دی

منکر الحدیث دئ سره د خپله ضعفه دی د ثقه راویانو مخالفت کوي. ابن حبان رحمه الله فرمایي: چي د ده په اکثره روایتو کي خطا سته. یعقوب بن سفیان رحمه الله فرمایي: چي اهل علم ته د ده د روایت څخه اجتناب او پرهېز کول پکار دئ، ځکه چي دی منکر روایتونه بیانوي. امام دار قطني دی د "کثیر الخطاء" په لقب باندي پېژني. امام ابو حاتم او امام ابو ذرعه هم ده ته "کثیر الخطاء" ویلي دي. (میزان الاعتدال، صـ: ۲۲۸، ج: ۴. راوي: ۸۹۴۹. تهذیب الکمال، صـ: ۳۸۱، ج: ۱۰. راوي: ٦٨٢) د سنن کبری په ج: ۲، صـ: ۳۰ کي پر حاشیه باندي دا پوره بحث په تفصیل سره موجود دئ.

**د غیر مقلدینو دوهم دلیل:**

حضرت هلب طائی رحمه الله فرمایي چي ما نبي کریم صلی الله علیه وسلم ولیدي چي راسته او چپه طرف ته به ئې وکتل او ما ولیدي چي لاسونه ئې پر خپل ځیگر ایښي وه. او د حدیث راوي یحیی ابن سعید د "هذه علی صدره" وضاحت داسي وکړي: چي راسته لاس ئې د چپه لاس پر څینګلي باندي ایښوو ي. (مسند امام احمد. تحفة الاحوذی. اعلاء السنن)

**جواب:**

دا روایت هم سخت ضعیفه او متکلم فیه دئ په "عون المعبود" او "التعلیق الحسن" کي پر دې باندي بحث سوی دئ. علامه شوق نیموي په "التعلیق الحسن علی آثار السنن" کي په مختلفو دلایلو سره دا ثابته کړې ده چي په حقیقت کي د حضرت هلب رحمه الله په روایت کي د "علی صدره" الفاظ نه سته بلکي دا د کاتب یا لیکوونکی لخوا یو زیاتی دئ او بل د هلب رحمه الله په روایت کي سماک ابن حرب راوي دئ چا ته چي حضرت سفیان، ابن مبارک او شعبه رحمة الله علیهم ضعیف ویلي دي. (میزان الاعتدال، صـ: ۲۳۲، ج: ۲. تهذیب التهذیب، صـ: ۲۳۲، ج: ۳. راوي: ۳۹۰)

**د غیر مقلدینو دریم دلیل:**

د حضرت طاؤس بن کیسان څخه مرسل روایت دئ چي نبي کریم ﷺ خپل راسته لاس پر چپه لاس باندي ایښوولي بیا ئې دا دواړه په لمانځه کي پر خپل ځیگر ایښوول. (مراسیل ابو داؤد. تحفة الاحوذی)

**جواب:**

دا روایت مرسل دئ. طاوس خو صحابي نه دئ د طاؤس او د رسول الله ﷺ په مینځ کي کوم راویان دي د هغوی نوم و نښان لا نه دي څرگند او د دې روایت په سند کي سلمان بن موسی نومي راوي هم سته چا ته چي امام بخاري، امام نسائي او امام حاکم رحمة الله علیهم ضعیف ویلي دي. (تقریب، ص: ۱۳۶. راوي: ۳۵۳۶)

هر کله چي تر نامه لاندي د لاس تړلو روایتونه هم زیات دي او تر نامه لاندي په لاس تړلو کي تعظیم هم ډېر دئ او د ښځو سره مشابهت هم نه سته نو په دې خاطر احناف تر نامه لاندي لاس تړل مستحب بولي.

# د امام په اقتداء کي قرآئت نه ویل

د امام ابوحنیفه، امام ابویوسف، امام محمد، سفیان ثوري، امام ابن عیینه رحمة الله علیهم په مذهب سره مقتدي ته په امام پسي قرآئت ویل یا سورة فاتحه ویل مکروه تحریمي ده؛ که جهري لمونځ وي او که سِري وي. صاحب د هدایې د امام محمد رحمه الله قول را نقل کړی دئ چي هغه په سِري لمونځو کي احتیاطاً قرآئت خلف الامام مستحب بولي خو دا خبره صحیح نه ده. صاحب د هدایې ته پر دغه ځای اشتباه سوې ده او په نقل کي تسامح سوې ده ځکه چي امام محمد رحمه الله خپله

په خپل کتاب مؤطا امام محمد کي خپل او د امام اعظم رحمه الله قول داسي را نقل کړی دئ:

قَالَ مُحَمَّدٌ رحمه الله لَا قِرَاءَةَ خَلْفَ الاِمَامِ فِيْمَا جُهِرَ فِيْهِ وَلَا فِيْمَا لَمْ يُجْهَرْ بِذَالِکَ جَاءَتْ عَامَةُ الْاٰثَارِ وَهُوَ قَوْلُ اَبِيْ حَنِيْفَةَ. (مؤطا امام محمد، ص:۹٦، قدیمی کتب خانه)

ژباړه: حضرت امام محمد رحمه الله فرمايي چي په امام پسي د قرآئت حکم نه سته که ئې امام په زوره وايي او که ئې کرار وايي. په عامو آثارو (حدیثو) همداسي ذکر سوي دي او همدا د امام ابو حنیفه رحمه الله قول هم دئ. (مؤطا امام محمد، ص: ۹٦. قدیمي کتب خانه)

ابن قدامه رحمه الله لیکلي دي چي امام احمد رحمه الله داسي فرمايي:

هٰذَا النَّبِيُّ صلی الله علیه وسلم وَ اَصْحَابُهُ وَ التَّابِعُوْنَ وَ هٰذَا مَالِکٌ فِيْ اَهْلِ الْحِجَازِ وَ هٰذَا الثَّوْرِی فِيْ اَهْلِ الْعِرَاقِ وَ هٰذَا الْاَوْزَاعِيْ فِيْ اَهْلِ الشَّامِ وَ هٰذَا اللَّيْثُ فِيْ اَهْلِ مِصْرَ مَا قَالُوْا لِرَجُلٍ صَلّٰى وَ قَرَاَ اِمَامُهُ وَلَمْ يَقْرَاْ هُوَ، صَلٰوتُکَ بَاطِلَةٌ. (المغنی، ج:۲، ص: ۲٦۲)

ژباړه: امام احمد رحمه الله فرمايي چي دا نبي کریم صلی الله علیه وسلم او د ده اصحاب رضي الله عنهم او تابعین رحمهم الله دي. دا په اهل حجاز کي امام مالک رحمه الله دئ. دا په عراق کي امام ثوري رحمه الله دئ. دا په اهل شام کي امام اوزاعي رحمه الله دئ. دا په اهل مصر کي امام لیث رحمه الله دئ. په دغه ټولو کي یوه هم داسي فتوا نه ده ورکړې چي امام قرآئت کوي او مقتدی ئې نه کوي نو د مقتدي لمونځ باطل دئ.

او د ابن قدامه رحمه الله شاګرد په شرح مقنع کي لیکي:

وَ لَاتَجِبُ الْقِرَاءَةُ عَلَى الْمَاْمُوْمِ هٰذَا قَوْلُ اَكْثَرُ اَهْلِ الْعِلْمِ وَ مِمَّنْ كَانَ لَا يَرَی الْقِرَاءَةَ خَلْفَ الْاِمَامَ عَلِيٌّ و ابن عباس و ابن مسعود و ابو

سعید و زید بن ثابت و عقبة بن عامر و جابر و ابن عمر و حذیفة بن الیمان رضی اللہ عنہم و به یقول الثوری و ابن عیینة واصحاب الرائ و مالک و الزهری و الاسود و ابراهیم و سعید بن جبیر رحمۃ اللہ علیہم قَالَ اِبْنِ سِیْرِیْنُ رحمہ اللہ: لَا اَعْلَمُ مِنَ السُّنَّةِ الْقِرَاءَةِ خَلْفَ الْاِمَامِ. (شرح مقنع، ج:۲، ص:۱۱)

او پر مقتدي باندي قرآئت واجب نه دئ؛ د ډېرو اهل العلمُ قول همدا دئ او کوم اهل العلم چي د قرآئت خلف الامام قائلین نه وه په هغوی کي حضرت علي، حضرت ابن عباس، حضرت ابن مسعود، حضرت ابوسعید، حضرت زید بن ثابت، حضرت عقبه بن عامر، حضرت جابر، حضرت ابن عمر، حضرت حذیفة بن یمان رضی اللہ عنہم شامل دي او د همدې قائلین بیا سفیان ثوري، سفیان بن عیینه، اصحاب رائ، امام مالک، امام زهري، اسود، ابراهیم او سعید بن جبیر رحمۃ اللہ علیہم دي. ابن سیرین رحمہ اللہ فرمایي چي د قرآئت خلف الامام سنت ګڼل خو زه نه پیژنم.

ګرانو لوستونکو! د "ممن کان لا یری" الفاظ دا خبره ښیي چي دا نومونه (قرآئت خلف الامام ته) د واجب نه ویونکو پوره نومونه نه دي بلکي دا خو د هغوی څخه یو څو روښانه نومونه وه چي موږ ذکر کړل او همدا ډول لکه څنګه چي امام احمد رحمہ اللہ فرمایلي وه چي د قرآئت خلف الامام د وجوب په هکله په اسلامي نړۍ کي څوک قائل نه دي او دا ډول د محمد بن سیرین رحمہ اللہ الفاظ هم دا څرګنده وي چي د قرآئت خلف الامام عمل د سنت خلاف دئ.

**۱- دلیل:**

﴿وَإِذَا قُرِئَ ٱلۡقُرۡءَانُ فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥ وَأَنصِتُواْ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ﴿٢٠٤﴾﴾ (سورة الاعراف، آیت: ۲۰۴)

ژباړه: او کله چې قرآن ویل کېږي نو تاسي هغه ته غوږ ونیسئ او چپ سئ ښایي چي پر تاسي باندي رحم وسي.

امام بیهقي رحمه الله په کتاب القراءة کي د مرفوع، موقوف، مقطوع څخه دا ثابته وي چي دا آیت د قرآئت خلف الامام په باره کي نازل سوي دي. په امام پسي د قرآئت د ثبوت روایتونه ټول د دې آیت څخه مخکي وه ځکه چي د دې آیت د نزول څخه مخکي په لمانځه کي سلام، کلام، د مقتدي قرآئت ویل جائز وه. مقتدي به سورة فاتحه او د هغه سره یو بل سورت هم وایه د دې څخه وروسته د سورة فاتحې څخه ماسېوا د سورت ویلو څخه ممانعت راغلي او سورة فاتحه لا ویل کېده. د دې آیت د نزول څخه وروسته سلام، کلام، د مقتدي لپاره په امام پسي قرآئت کول دا ټوله شیان منسوخه سول حتی چي د سورة فاتحې ویل هم منسوخه سول. نو که چیري په صحیح سند سره دا روایتونه ثابت هم سي نو د دې آیت د نزول څخه وروسته هغه منسوخه سوي دي.

**۲- دلیل:**

عَنْ اَبِیْ مُوْسَی الْاَشْعَرِيّ رضی الله عنه قَالَ: اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صلی الله علیه وسلم خَطَبَنَا فَبَیَّنَ لَنَا سُنَّتَنَا وَ عَلَّمَنَا صَلٰوتَنَا، فَقَالَ اِذَا صَلَّیْتُمْ فَاَقِیْمُوْا صُفُوْفَکُمْ ثُمَّ لِیَؤُمَّکُمْ اَحَدُکُمْ فَاِذَا کَبَّرَ فَکَبِّرُوْا (وفی حدیث جریر عن سلیمان

عن قتادة من الزيادة) وَ اِذَا قَرَاَ فَانْصِتُوْا وَ اِذَا قَالَ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ فَقُوْلُوْا آمِيْن. (صحیح مسلم، ج:۱، ص: ۱۷۴)

د ابو موسی اشعري رضي الله عنه څخه روایت دئ چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم موږ ته نصیحت وکړي. وروسته ئې موږ ته د سنت تعلیم او تلقین وکړي او بیا ئې د لمانځه طریقه راته بیان کړه. بیا نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چي کله تاسو لمونځ کوي نو خپل صفونه سیده کوي، بیا دي ستاسو څخه یو سړی ستاسو امامت وکړي نو کله چي هغه (امام) تکبیر ووایي نو تاسي یې هم ووایاست. (امام مسلم رحمه الله لیکلي دي چي د جریر عن سلیمان عن قتاده په روایت کي په دې حدیث کي دا اضافه عبارت هم سته) او کله چي امام قرآئت وایي نو تاسي چپ سئ او کله چي امام "غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ" ووایي نو تاسي "آمین" ووایاست.

**۳- دلیل:**

عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم: اِنَّمَا جُعِلَ الْاِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ فَاِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوْا وَ اِذَا قَرَءَ فَانْصِتُوْا. (نسائی، ج:۱، ص: ۱۴٦، مصنف ابن ابی شیبه، ج:۱، ص: ۴۱۴)

ژباړه: د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: امام فقط د دې لپاره جوړیږي چي د هغه اقتداء وسي نو کله چي هغه (امام) تکبیر ووایي نو تاسو هم تکبیر ووایاست او کله چي هغه قرآئت وایي نو تاسي چپ سي.

یادونه:

امام مسلم، امام احمد بن حنبل، امام نسائي، امام ابن جریر طبري، حافظ ابن تیمیه، حافظ منذری، حافظ ابن کثیر، علامه ابن حزم، حافظ ابن عبدالبر او نورو د حدیثو لویو حافظانو د دې حدیث

تصحیح کړې ده. همدا ډول د "اهل حدیث" فرقې لوي مشر نواب صدیق حسن خان او مولانا شمس الحق ډیانوي هم دې روایت ته صحیح ویلي دي وګورئ "دلیل الطالب" ص: ۲۹۴ او عون المعبود، ج: ۱، ص: ۲۳۵.

**۴- دلیل:**

عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: اِنَّمَا جُعِلَ الْاِمَامُ لِیُؤْتَمَّ بِهٖ فَاِذَا کَبَّرَ فَکَبِّرُوْا وَ اِذَا قَرَءَ فَانْصِتُوْا وَ اِذَا قَالَ غَیْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ وَلَا الضَّآلِّیْنَ فَقُوْلُوْا آمِیْن. (ابن ماجه، ص:۶۱. مشکوة، ص: ۸۱. طحاوی، ص:۱۴۲)

ژباړه: د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: امام فقط د دې لپاره جوړېږي چې د هغه اقتداء وسي نو کله چې هغه (امام) تکبیر ووایي نو تاسو هم تکبیر ووایاست او کله چې هغه قرآئت وایي نو تاسي چپ سي او کله چې "غَیْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ وَلَا الضَّآلِّیْنَ" ووایي نو تاسي "آمین" ووایاست.

**۵- دلیل:**

عَنْ اَبِیْ مُوْسَی الْاَشْعَرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: اِذَا قَرَاَ الْاِمَامُ فَانْصِتُوْا فَاِذَا کَانَ عِنْدَ الْقَعْدَةِ فَلْیَکُنْ اَوَّلَ ذِکْرِ اَحَدِکُمُ التَّشَهُّدُ. (ابن ماجه، ص: ۶۱) وَ اَثْبَتَ تَصْحِیْحَهُ الْحَافِظُ مُغْلَطَائِی عَنْ جَمَاعَةٍ مِّنَ الْحُفَّاظِ. (الاعلام قلمي، ج: ۴، ص: ۸۱)

ژباړه: د ابو موسی اشعري رضي الله عنه څخه روایت دئ چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: چې کله امام قرآئت وکړي نو تاسي هم چپ سئ او کله

چي په ناسته کي وي نو ستاسو څخه دي باید د هر یوه اول ذکر تشهد (التحیات) وي.

**٦ – دلیل:**

عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ اِنْصَرَفَ مِنْ صَلٰوةٍ جَهَرَ فِیْهَا بِالْقِرَاءَةِ فَقَالَ هَلْ قَرَاَ مَعِیَ اَحَدٌ مِّنْکُمْ اٰنِفًا؟ فَقَالَ رَجُلٌ نَعَمْ یَا رَسُوْلَ اللهِ ﷺ! قَالَ اِنِّیْ اَقُوْلُ مَالِیْ اُنَازِعُ الْقُرْآنَ قَالَ فَانْتَهَی النَّاسُ عَنِ الْقِرَاءَةِ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فِیْمَا جَهَرَ فِیْهِ النَّبِیُّ ﷺ بِالْقِرَاءَةِ مِنَ الصَّلَوَاتِ حِیْنَ سَمِعُوْا ذٰلِکَ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ. (ابو داؤد، ص: ۱۲۰، نسائي، ص: ۱۴۶. مؤطا امام مالک، ص: ۲۹. مؤطا امام محمد: ۹۵)

ژباړه: د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د یوه جهري لمانځه څخه فارغه سو نو ئې و پوښتل چي آیا اوس له تاسو څخه چا په ما پسي قرآئت وکړي؟ یو سړي وویل: هو! ما همداسي وکړل یا رسول الله ﷺ! ابوهریرة رضی الله عنه فرمایي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چي ځکه خو ما د خپل نفس سره ویل چي زما سره د قرآن په قرآئت کي جګړه ولي کېږي؟ (د رسول الله ﷺ د دې ارشاد څخه وروسته) په کومو لمونځو کي چي رسول الله ﷺ په زوره قرآئت وایه صحابه کرامو رضی الله عنهم په هغه لمونځو کي قرآئت پرېښووي.

**فایده:**

دا د نبي کریم ﷺ یوه ځانګړتیا وه چي دی (ﷺ) به په لمانځه کي د پټو کارو څخه هم متاثر کېدي. په لمانځه کي به د ده (ﷺ) احساس او قوت مدرکه پر زور سوله د شا طرف به ئې داسي لیدي لکه د مخ طرف. که به د چا اودس صحیح نه وو یا به چا په کرار آواز سره قرآئت وایه نو نبي کریم ﷺ به په پوهېدي او په دې حدیث

کي د قرآئت مطلق انکار دئ دا پر جهر یا سورت حمل کول صحیح نه دئ. امام نسائي رحمه الله فرمايي:

فِيْهِ تَرْكُ الْقِرَآئَتِ خَلْفَ الْاِمَامَ فِيْمَا جُهِرَ بِهِ. (زجاجة المصابيح، ج: ۱، ص: ۲۴۷)

ژباړه: په دې حديث کي په جهري لمونځو کي په امام پسي قرآئت پرېښوول ذکر دئ.

**۷- دليل:**

عَنْ جَابَرِ بْنِ عَبْدِاللهِ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: مَنْ كَانَ لَهُ اِمَامٌ فَقِرَاءَةُ الْاِمَامِ لَهُ قِرَاءَةٌ. (مؤطا امام محمد، ص:۹۸. مصنف ابن ابی شيبه، ج:۱، ص:۴۱۲. مسند احمد، ج:۳، ص: ۳۳۹. طحاوی، ص:۱۴۲ واللفظ له)

ژباړه: د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: کوم سړی چي د امام په اقتداء کي لمونځ کوي هغه ته د امام قرآئت کفايت او بسنه کوي.

**۸- دليل:**

عَنْ اَنَسٍ قَالَ: صَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم ثُمَّ اَقْبَلَ بِوَجْهِهِ فَقَالَ اَ تَقْرَءُوْنَ وَ الْاِمَامُ يَقْرَأُ فَسَكَتُوْا فَسَاَلَهُمْ ثَلَاثًا فَقَالُوْا اِنَّا لَنَفْعَلُ هٰذَا قَالَ فَلَا تَفْعَلُوْا. (طحاوی، ج:۱، ص:۱۴۳)

ژباړه: د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم لمونځ ادا کړي بيا (موږ) ته متوجه سو او و ئې وفرمایل: آيا تاسو قرآئت لوستي حال دا دئ چي امام قرآئت کوي؟ بيا صحابه کرامو رضي الله عنهم چوپتيا اختيار کړه، د درو ځلو ويلو وروسته صحابه کرامو

رضي الله عنهم وویل چي هو (موږ) قرآئت لوستي. نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چي دا کار مه کوئ.

**۹- دلیل:**

عَنْ حَطَّانَ بْنِ عَبْدِاللهِ اَنَّ اَبَا مُوْسٰی قَالَ: خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَعَلَّمَنَا سُنَّتَنَا وَبَیَّنَ لَنَا صَلٰوتَنَا فَقَالَ اِذَا کَبَّرَ الْاِمَامُ فَکَبِّرُوْا فَاِذَا قَرَاَ فَاَنْصِتُوْا. (صحیح ابی عوانه، ج:۲، ص: ۱۳۳)

ژباړه: د حطان بن عبدالله رحمه الله څخه روایت دئ چي ابوموسی اشعري رضي الله عنه دا بیان وکړي چي رسول الله ﷺ موږ ته خطبه وویل په کومه کي چي ئې موږ ته د سنت تعلیم راکړي او موږ ته ئې د لمانځه طریقه بیان کړه چي امام تکبیر ووایي نو تاسو هم تکبیر ووایاست او کله چي هغه قرآئت پیل کړي نو تاسو چپ سئ.

**۱۰- دلیل:**

عَنْ اَبِیْ مُوْسٰی اَشْعَرِیِّ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اِذَا قَرَاَ الْاِمَامُ فَاَنْصِتُوْا وَ اِذَا قَالَ غَیْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ وَلَا الضَّآلِّیْنَ فَقُوْلُوْا آمِیْن. (صحیح ابی عوانه،ج:۲، ص: ۱۳۳)

ژباړه: د ابوموسی اشعري رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چي کله امام قرآئت کوي نو تاسي چپ سئ او کله چي هغه "غَیْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ وَ لَا الضَّآلِّیْنَ" ووایي نو تاسي "آمین" ووایاست.

**۱۱- دلیل:**

عَنْ اَبِیْ مُوْسَی الْاَشْعَرِیِّ رضي الله عنه قَالَ: عَلَّمَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ قَالَ: اِذَا قُمْتُمْ اِلَی الصَّلٰوةِ فَلْیَؤُمَّکُمْ اَحَدُکُمْ وَ اِذَا قَرَاَ الْاِمَامُ فَاَنْصِتُوْا. (مسند امام احمد،ج:۴، ص:۴۱۵)

ژباړه: د ابوموسی اشعري ﵁ څخه روایت دئ چي نبي کریم ﷺ موږ ته (د لمانځه) تعلیم راکړي چي کله تاسي د لمانځه په اراده ولاړ سي نو ستاسو څخه دي یو ستاسي امام جوړ سي او کله چي هغه قرآئت کوي نو تاسي چپ سئ.

**۱۲- دلیل:**

عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﵁ قَالَ: كَانُوْا يَقْرَئُوْنَ خَلْفَ النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ خَلَطتُّمْ عَلَيَّ الْقِرَاءَةَ. (طحاوی، ج:۱، ص: ۱۴۲)

ژباړه: حضرت عبدالله بن مسعود ﵁ روایت کوي چي خلکو په رسول الله ﷺ پسي قرآئت کوي نو نبي کریم ﷺ د دوی پر دې عمل باندي وفرمایل چي تاسي پر ما باندي قرآئت ګډوډ کړي.

**یادونه:**

دا روایت په مسند احمد، مسند ابو لیلی او په مسند بزار کي هم سته او امام هیثمی ﵀ د مسند احمد د روایت په باب لیکي: "رِجَالُهُ رِجَالُ الْبُخَارِي" (مجمع الزوائد، ج: ۲، ص: ۱۱۰) او محقق ماردیتی ﵀ لیکي: "وَهٰذَا سَنَدٌ جَيِّدٌ". (الجوهر النقی، ج: ۲، ص: ۱۶۳)

**۱۳- دلیل:**

عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ زَيْدِ بْنِ اَسْلَمَ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ: نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنِ الْقِرَاءَةِ خَلْفَ الْاِمَامِ قَالَ وَ اَخْبَرَنِيْ اَشْيَاخُنَا اَنَّ عَلِيًّا ﵁ قَالَ: مَنْ قَرَاَ خَلْفَ الْاِمَامِ فَلَا صَلَاةَ لَهُ قَالَ وَ اَخْبَرَنِيْ مُوْسَى بْنُ عُقْبَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ وَ اَبَابَكْرٍ وَ عُمَرَ وَ عُثْمَانَ كَانُوْا يَنْهَوْنَ عَنِ الْقِرَاءَةِ خَلْفَ الْاِمَامِ. (مصنف عبدالرزاق، ج:۲، ص:۱۳۹)

ژباړه: عبدالرحمن بن زید بن اسلم د خپل پلار زید بن اسلم څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ په امام پسي د قرآئت کولو څخه منعه

کړې ده. عبدالرحمن وایي چې موږ ته زموږ مشائخو ویلي دي چې حضرت علي کرم الله وجهه وفرمایل: کوم سړی چې په امام پسې قرآئت وکړي د هغه لمونځ نه دي صحیح او ما ته موسی بن عقبه رضي الله عنه وویل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او حضرت ابوبکر صدیق، حضرت عمر او حضرت عثمان رضي الله عنهم په امام پسې د قرآئت د لوستلو څخه منعه کول.

**یادونه:**

د حدیثو کتاب "مصنف عبدالرزاق" د امام بخاري رحمه الله د استاذ د امام عبدالرزاق رحمه الله دئ.

**۱۴- دلیل:**

عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم: اِذَا جِئْتُمْ اِلَی الصَّلٰوةِ وَ نَحْنُ سُجُوْدٌ فَاسْجُدُوْا وَ لَا تَعُدُّوْهَا شَیْئًا وَ مَنْ اَدْرَکَ الرَّکْعَةَ فَقَدْ اَدْرَکَ الصَّلٰوةَ. (ابو داؤد، ج:۱، ص:۱۲۹)

ژباړه: د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې تاسي په داسي حال کي لمانځه ته راسي چې موږ په سجده کي یو نو تاسي سجدې ته ولاړ سي او دا (سجده) مه شمېري او چا چې رکوع ونیول نو بېشکه هغه لمونځ ونیوي.

**۱۵- دلیل:**

عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضي الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ: مَنْ اَدْرَکَ رَکْعَةً مِنَ الصَّلَاةِ فَقَدْ اَدْرَکَهَا قَبْلَ اَنْ یُّقِیْمَ الْاِمَامُ صُلْبَهُ. (صحیح ابن خزیمه، ج:۳، ص: ۴۵)

ژباړه: د ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چا چې د امام د را پورته کېدو څخه مخکي رکوع ونیول نو په تحقیق سره هغه رکعت ونیوي.

**۱٦- دلیل:**

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ: اِذَا اَدْرَكْتَ الْاِمَامَ رَاكِعًا فَرَكَعْتَ قَبْلَ اَنْ يَّرْفَعَ فَقَدْ اَدْرَكْتَ وَاِنْ رَفَعَ قَبْلَ اَنْ تَرْكَعَ فَقَدْ فَاتَتْكَ. (مصنف عبدالرزاق، ج:۲، ص:۲۷۹)

ژباړه: حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمايي: کله چي تاسي امام د رکوع په حالت کي ومونديو او د هغه د رکوع څخه د را پورته کېدو مخکي تاسي رکوع وکړه نو تاسي رکعت وموندي او که ستاسو د رکوع کولو څخه مخکي امام سر را پورته کړي نو رکعت مو فوت (تېر) سو.

**۱۷- دلیل:**

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ: اِذَا جِئْتَ وَالْاِمَامُ رَاكِعٌ فَوَضَعْتَ يَدَيْكَ عَلٰى رُكْبَتَيْكَ قَبْلَ اَنْ يَّرْفَعَ رَاْسَهُ فَقَدْ اَدْرَكْتَ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج:۱، ص: ۲۷۴)

ژباړه: حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمايي: کله چي ته د امام د رکوع په حالت کي راغلې او د امام د سر د را پورته کېدو څخه مخکي تا پر خپل ځنګنو لاسونه کښېښوول (يعني رکوع ته ولاړې) نو تا رکعت ونيوي.

**فایده:**

مقتدی چي د امام د رکوع کولو په وخت کي راسي او په رکوع کي شامل سي او سورة فاتحه نه وو ايي بيا هم د ده دا رکعت کېږي، نو معلومه سول چي مقتدي ته د امام په اقتداء کي سورة فاتحه ويل ضروري نه ده کنې نو د دې سړي دا رکعت به نه کېدلای.

# سورة فاتحه هم په قرآئت کي شامله ده

**۱۸- دلیل :**

عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ وَ اَبَا بَکْرٍ وَ عُمَرَ وَ عُثْمَانَ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ کَانُوْا یَفْتَتِحُوْنَ الْقِرَاءَۃَ بِالْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ. (ابوداؤد، ج:۱، ص: ۱۱۴، ترمذی، ج:۱، ص:۵۷)

ژباړه: د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم او حضرت ابوبکر صدیق، حضرت عمر او حضرت عثمان رضی الله عنهم به د "الحمد لله رب العالمین" څخه قرآئت پیل کوي.

**۱۹- دلیل:**

عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَۃَ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ یَقُوْلُ کَانَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ اِذَا نَهَضَ مِنَ الرَّکْعَةِ الثَّانِیَةِ اسْتَفْتَحَ الْقِرَاءَةَ بِالْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ وَ لَمْ یَسْکُتْ. (مسلم، ج:۱، ص:۲۱۹)

ژباړه: د ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم چي به د دوهم رکعت څخه را پورته کېدي نو به ئې قرآئت د "الحمد لله رب العالمین" څخه پیل کوي.

**۲۰- دلیل:**

عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَۃَ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ کَانَ یَفْتَتِحُ الْقِرَاءَۃَ بِالْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ. (ابن ماجه، ص: ۵۹)

ژباړه: د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم د "الحمد لله رب العالمین" څخه قرآئت پیل کوي.

# د قرآئت خلف الامام په باره کي د صحابه کرامو رضي الله عنهم فتوا

**۲۱- دلیل:**

عَنْ وَهْبِ بْنِ كَيْسَانَ رحمه الله اَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ رضي الله عنه يَقُوْلُ: مَنْ صَلّٰى رَكْعَةً لَمْ يَقْرَاْ فِيْهَا بِاُمِّ الْقُرْآنِ فَلَمْ يُصَلِّ اِلَّا اَنْ يَّكُوْنَ وَرَاءَ الْاِمَامِ. هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ. (الترمذی،ج:۱، ص:۷۱، مؤطا امام محمد، ص: ۹۵)

ژباړه: وهب بن کیسان رحمه الله فرمایي چي ما د حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه واؤریدل چي چا لمونځ وکړي او سورة فاتحه ئې نه وویل نو هغه لمونځ گرسره کړی نه دئ. مگر د امام په اقتداء کي چي کوم لمونځ وکړي (په هغه کي د سورة فاتحې ویلو ضرورت نه سته).
امام ترمذي رحمه الله فرمایي چي دا حدیث حسن صحیح دئ.

**۲۲- دلیل:**

عَنْ عَطَاءٍ رحمه الله اَنَّهُ سَئَلَ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ رضي الله عنه عَنِ الْقِرَاءَةِ مَعَ الْاِمَامِ فَقَالَ لَا قِرَاءَةَ مَعَ الْاِمَامِ فِيْ شَيْءٍ. (مسلم،ج:۱، ص: ۲۱۵)

ژباړه: حضرت عطاء بن یسار رضي الله عنه فرمایي چي ما د حضرت زید بن ثابت رضي الله عنه څخه په امام پسي د قرآئت کولو په باره کي وپوښتل، نو هغه وفرمایل چي په امام پسي هیڅ قرآئت نه کېږي.

**۲۳- دلیل:**

عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ ﷛ قَالَ: لَا يَقْرَأُ خَلْفَ الْإِمَامِ اِنْ جَهَرَ وَ لَا اِنْ خَافَتْ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج:۱، ص: ۴۱۳)

ژباړه: د حضرت زید بن ثابت ﷛ څخه روایت دئ چي په امام پسي قرآئت مه وایاست؛ که امام په زوره قرآئت وایي او که ئې کرار وایي.

**۲۴- دلیل:**

عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ ﷛ قَالَ: لَا قِرَاءَةَ خَلْفَ الْإِمَامِ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج:۱، ص: ۴۱۲)

ژباړه: حضرت زید بن ثابت ﷛ فرمایي: په امام پسي هیڅ ډول قرآئت نه سته.

**۲۵- دلیل:**

عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ قَيْسٍ اَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷛ كَانَ لَا يَقْرَأُ خَلْفَ الْإِمَامِ فِيْمَا يُجْهَرُ فِيْهِ وَ فِيْمَا يُخَافَتُ فِيْهِ فِي الْأُوْلَيَيْنِ وَلاَ فِي الْأُخْرَيَيْنِ. (مؤطا امام محمد، ص:۱۰۰)

ژباړه: حضرت علقمه بن قیس فرمایي چي حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ به په امام پسي قرآئت نه کوي نه په جهري لمونځو کي او نه په سري لمونځو کي، نه په اولو رکعتو کي او نه په آخرو رکعتو کي.

**۲٦- دلیل:**

قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ﷛: تَكْفِيْكَ قِرَاءَةُ الْإِمَامِ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج:۱، ص:۴۱۲)

ژباړه: حضرت عمر بن الخطاب ﷛ فرمایي: چي تا ته د امام قرآئت کفایت او بسنه کوي.

**۲۷- دلیل:**

مَالِکٌ رَحِمَهُ اللهُ عَنْ نَّافِعٍ رَحِمَهُ اللهُ اَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ اِذَا سُئِلَ هَلْ يَقْرَاُ اَحَدٌ خَلْفَ الْاِمَامِ؟ قَالَ: اِذَا صَلّٰى اَحَدُكُمْ خَلْفَ الْاِمَامِ فَحَسْبُهُ قِرَاءَةُ الْاِمَامِ وَاِذَا صَلّٰى وَحْدَهُ فَلْيَقْرَاْ. قَالَ: وَكَانَ عَبْدُاللهِ بْنُ عُمَرَ لَا يَقْرَاُ خَلْفَ الْاِمَامِ. (مؤطا امام مالک، ص:٦٨، مؤطا امام محمد :۹۵)

ژباړه: امام مالک رحمه الله د حضرت نافع رحمه الله څخه روایت کړی دئ چي د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه به چي وپوښتل سوه چي آیا یو ثوک په امام پسي قرآئت کولای سي؟ نو ده به وفرمایل: چي په تاسو کي چي ثوک په امام پسي لمونځ وکړي نو هغه ته د امام قرآئت کفایت کوي او چي یوازي لمونځ کوي نو بیا دي قرآئت وکړي. او نافع رحمه الله وایي چي حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما به په امام پسي قرآئت نه لوستي.

**۲۸- دلیل:**

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَجْلَانَ رَحِمَهُ اللهُ قَالَ: قَالَ عَلِيٌّ كَرَّمَ اللهُ وَجْهَهُ: مَنْ قَرَاَ مَعَ الْاِمَامِ فَلَيْسَ عَلَى الْفِطْرَةِ قَالَ: وَقَالَ ابْنَ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: مُلِئَ فُوْهُ تُرَابًا. قَالَ: وَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: وَدِدْتُّ اَنَّ الَّذِيْ يَقْرَاُ خَلْفَ الْاِمَامِ فِيْ فِيْهِ حَجَرٌ. (مصنف عبدالرزاق، ج: ۲، ص: ۱۳۸)

محمد بن عجلان رحمه الله فرمایي چي حضرت علي کرم الله وجهه وفرمایل: کوم سړی چي په امام پسي قرآئت کوي هغه پر فطرت باندي نه دئ. او ابن مسعود رضي الله عنه وفرمایل: (کوم سړی چي په امام پسي قرآئت کوي) د هغه خوله دي د خاورو ډکه سي. او حضرت عمر رضي الله عنه

وفرمايل: کوم سړی چې په امام پسې قرآئت کوي زما زړه غواړي چې دهغه په خوله کې ډبره وای.

**۲۹- دليل:**

وَ قَالَ اَبُو الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: اُرٰى اَنَّ الْاِمَامَ اِذَا اَمَّ الْقَوْمَ فَقَدْ كَفَاهُمْ. (طحاوی،ج:۱، ص:۱۴۲)

ژباړه: حضرت ابو الدرداء رضي الله عنه فرمايي: زه پوهېږم چې امام کله د قوم امامت وکړي نو د ده قرآئت د قوم لپاره کفايت کوي.

**۳۰- دليل:**

عَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِي وَ قَاصٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: وَدِدْتُّ اَنَّ الَّذِيْ يَقْرَاُ خَلْفَ الْاِمَامِ فِيْ فِيْهِ جَمْرَةٌ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۱، ص:۴۱۲. مؤطا امام محمد، ص:۱۰۱)

ژباړه: سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه فرمايي: زما زړه غواړي چې کوم سړی په امام پسې قرآئت کوي د هغه په خوله کې سکروټه وای.

**۳۱- دليل:**

عَنِ الْوَلِيْدِ بْنِ قَيْسٍ رَحِمَهُ اللّٰهُ قَالَ: سَئَلْتُ سُوَيْدَ بْنَ غَفْلَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَقْرَاَ خَلْفَ الْاِمَامِ فِي الظُّهْرِ وَ الْعَصْرِ؟ فَقَالَ: لاَ!. (مصنف ابن ابی شیبه، ج:۱، ص: ۴۱۳)

ژباړه: وليد بن قيس رحمه الله فرمايي: چې ما د سويد بن غفلة رضي الله عنه څخه وپوښتل چې آيا زه ماپښين او ماځيګر په امام پسې قرآئت ووايم؟ نو هغه راته وفرمايل: يا! (مه ئې وايه)

# د قرآئت خلف الامام په اړه د لویو تابعینو فتوا

**۳۲- دلیل:**

عَنِ الْاَسْوَدِ رحمه الله قَالَ: وَدِدْتُّ اَنَّ الَّذِیْ یَقْرَاُ خَلْفَ الْاِمَامِ مُلِئَ فُوْهُ تُرَابًا. (مصنف ابن ابی شیبه، ج:۱ص، ص: ۴۱۳)

حضرت اسود بن یزید رحمه الله فرمايي: زه غواړم کوم سړی چي په امام پسي قرآئت کوي د هغه خوله دي د خاورو ډکه سي.

**۳۳- دلیل:**

اَنَّ عَلْقَمَةَ بْنَ قَیْسٍ رحمه الله قَالَ: اِنَّ الَّذِیْ یَقْرَاُ خَلْفَ الْاِمَامِ مُلِئَ فُوْهُ. قَالَ: اَحْسِبُهُ. قَالَ: تُرَابًا اَوْ رَضْفًا. (مصنف عبد الرزاق، ج: ۱، ص: ۱۳۸)

ژباړه: حضرت علقمه بن قیس رحمه الله فرمايي: کوم سړی چي په امام پسي قرآئت کوي الله تعالی دي وکړي چي د هغه خوله د خاورو ډکه سي.

**فایده:**

حضرت اسود رحمه الله او حضرت علقمه بن قیس رضي الله عنه د هغو لویو تابعینو څخه دي کومو چي به د صحابه کرامو رضي الله عنهم په دور کي فتواوي ورکولې.

# د غیر مقلدینو د قرآئت خلف الامام په اړه دلایل او د هغوی جوابونه

**د غیر مقلدینو لومړی دلیل:**

حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ عَنْ مَحْمُوْدِ بْنِ الرَّبِيْعِ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ ﷛ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: لَا صَلٰوةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَاْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ. (بخاری)

ژباړه: سفیان ﷫ روایت کړی دئ د زهري ﷫ څخه، هغه د محمود بن ربیع ﷫ څخه، هغه د عباده بن صامت ﷛ څخه چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چي سورة فاتحه نه وویل د هغه لمونځ نه دي سوی.

**جواب:**

همدا حدیث په همدې سند سره په ابو داؤد کي داسي راغلی دئ:

سُفْيَانُ عَنِ الزُّهْرِيُّ عَنْ مَحْمُوْدِ بْنِ الرَّبِيْعِ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ ﷛ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: لَا صَلٰوةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَاْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَصَاعِدًا. (ابو داؤد، ج:۱، ص: ۱۱۹)

ژباړه: سفیان ﷫ روایت کړی دئ د زهري ﷫ څخه، هغه د محمد بن ربیع ﷫ څخه، هغه د عباده بن صامت ﷛ څخه چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چي سورة فاتحه او نور (د قرآن څخه) نه ولوستل د هغه لمونځ نه دي سوی.

د دې حدیث هم ټوله راویان ثقه دئ یو راوي هم ضعیفه پکښې نه سته. نو معلومه سول چې په بخاري شریف کې دا حدیث په تفصیل سره نه وو اوس نو مقتدي ته لازمه ده چې د سورة فاتحې سره یو بل سورت هم ووایي. بیا خو نه د غیر مقلدینو لمونځ کېږي چې د امام په اقتداء کې یوازي سورة فاتحه وایي د سورة فاتحې وروسته بل سورت نه وایي ځکه چې په دې حدیث کې خو راغله چې د فاتحې څخه ماسېوا بل سورت و نه وایي نو لمونځ ئې نه صحیح کېږي.

په اصل کې خبره دا ده چې د حدیث په مطلب د حدیث راویان تر موږ ښه پوهېږي. راسئ! چې د دې حدیث مطلب د دې حدیث د راوي سفیان بن عیینه رحمه الله څخه و پوښتو.

قَالَ سُفْيَانُ: لِمَنْ يُّصَلِّيْ وَحْدَهُ. (ابوداؤد، ج:۱، ص:۱۱۹)

ژباړه: سفیان رحمه الله فرمایي: چې دا حدیث د هغه چا په باره کې دئ چې یوازي لمونځ کوي.

د امام بخاري رحمه الله استاذ امام احمد بن حنبل رحمه الله د دې حدیث د تشریح په هکله څه وایي؟ په ترمذي کې راغلي دئ چې:

اَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ رحمه الله فَقَالَ: مَعْنٰى قَوْلِ النَّبِيِّ ﷺ لَاصَلٰوةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ اِذَا كَانَ وَحْدَهُ.(ترمذی، ج:ص۱، ص:۷۱)

ژباړه: امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمایي: چې د نبي کریم ﷺ د دې قول " لَاصَلٰوةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ " مطلب دا دئ چې کله لمونځ کوونکی یوازي وي. (نو هغه وخت ده ته لازمه ده چې سورة فاتحه ووایي)

د دې څخه پرته نورو صحابه کرامو رضي الله عنهم همدا مطلب ځني اخیستی دئ لکه پورته چې بیان سو.

**د غیر مقلدینو دوهم دلیل:**

حضرت عباده ﷺ فرمايي: چې د سهار لمونځ موږ په نبي کریم ﷺ پسې کوي او نبي کریم ﷺ قرآئت لوستې. نو پر رسول الله ﷺ باندې قرآئت ثقیل (درونډ) سو نو کله چې د لمانځه څخه فارغه سو نو ئې وفرمایل: ښایي چې تاسو په امام پسې قرآئت کوي؟ موږ ورته وويل: یا رسول الله ﷺ! موږ ئې ژر ژر وایو. نو ده مبارک (ﷺ) وفرمایل: "لاَ تَفْعَلُوْا اِلَّا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ، فَاِنَّهُ لَا صَلٰوةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِهَا" یعني یوازي سورة فاتحه وایاست ځکه چې د هغې پرته لمونځ نه صحیح کېږي او نور څه مه وایاست. (رواه ابو داؤد و الترمذی)

**جواب:**

که څه هم شافعیه حضرات د خپل مسلک مطابق د دې حدیث تصحیح کړې ده او امام ترمذي رحمه الله هم دې حدیث ته حسن ويلي دي لیکن متاسفانه دا حدیث معلول او ضعیف دئ، د متن او سند دواړو له لحاظه مضطرب دئ. ابن تیمیه رحمه الله لیکي چې: "دا حدیث په ډېرو وجوهاتو سره د حدیث د امامانو په نزد معلول دئ. امام احمد او نورو د حدیث امامانو د دې حدیث ضُعف بیان کړی دئ". (فتاوی ابن تیمیه، ج، ۲۳، ص: ۲۸۷)

د دې حدیث په سند کې محمد بن اسحاق سته نو هغه چې کله یوازې وي نو په احکامو کې د هغه روایت حجت او دلیل نه دئ. (الدرایه لابن حجر. المیزان للذهبی)

که څه هم امام بخاري رحمه الله او شعبه رحمه الله د محمد بن اسحاق توثیق کړی دئ لیکن جمهورو محدثینو بیا هغه ضعیف بللی دئ. امام مالک رحمه الله د دې راوي په هکله فرمايي: "كَذَّابٌ دَجَّالٌ" او ابن قطان رحمه الله او وهب رحمه الله فرمايي: "كَذَّابٌ" او همدا ډول امام احمد،

نسائي، ابو حاتم، ابن نمیر، دار قطني، ابو ذرعه، بیهقي، ماردیتي، ابن معین، د امام بخاري استاذ علي بن المدیني، ذهبي، ابن حجر او نورو محدثینو رحمهم الله دی ضعیف بللی دئ. قاضي شوکاني رحمه الله په "نیل الاوطار" ج: ۱، ص: ۲۳۴ کي لیکي:

"اِبْنِ اِسْحَاقِ لَیْسَ بِحُجَّةٍ لَا سِیَّمًا اِذَا عَنْعَنَ".

ژباړه: محمد ابن اسحاق حجت نه دئ په خاصه توګه چي هغه په عن عن سره روایت کوي.

د غیر مقلدینو لارښود نواب صدیق حسن خان په دلیل الطالب ص: ۲۳۹ کي لیکي:

"محمد ابن اسحاق حجت نیست" یعني محمد ابن اسحاق حجت نه دئ. نو لهذا د جمهورو په مقابله کي د امام بخاري رحمه الله او شعبه رحمه الله توثیق مرجوح دئ. د دې څخه پرته په دې حدیث کي یو راوي مکحول مدلس دئ او په عن عن سره روایت کوي او د محدثینو په نزد د مدلس عنعنه مقبوله نه ده. ابن سعید رحمه الله هم لیکي چي مکحول د حضرت عباده رضي الله عنه څخه هیڅ حدیث نه دئ اورېدلی. (تهذیب التهذیب، ج: ۱۰، ص: ۲۹۲) او د دې په بعضو طرق کي نافع مجهوله راوي دئ.

**د غیر مقلدینو دریم دلیل:**

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي چا لمونځ وکړي او سورة فاتحه ئې پکښې نه وویل نو د هغه لمونځ ناقص دئ، ناقص دئ، ناقص دئ. (ابو سائب رحمه الله وایي) چي ما د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه و پوښتل چي زه کله په امام پسي ولاړ یم نو څه وکړم؟ هغه زما څینګله و ښورول او جواب ئې را کړي: "اِقْرَاْ بِهَا فِيْ نَفْسِکَ" (د خپل ځان سره ئې ووایه)

**جواب:**

د دې په سند کي يو راوي علاء بن عبدالرحمن دئ. د ده په هکله امام ابن معين رحمه الله فرمايي چي د ده حديث حجت نه دئ. امام بن عدي رحمه الله فرمايي چي دا قوي نه دئ. ابو حاتم رحمه الله فرمايي چي دا منکر احاديث بيانوي. ابو ذرعه رحمه الله فرمايي چي دا قوي نه دئ.

**د غير مقلدينو څلورم دليل:**

حضرت ابوهريرة رضي الله عنه د حضور اکرم صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چي کوم سړی فرض لمونځ د امام سره وکړي هغه دي د امام په چپوالي کي سورة فاتحه ووايي. (کتاب القرآءة، ص: ۵۴. مستدرک، ج: ۱، ص: ۲۳۸)

**جواب:**

د دې حديث په سند کي محمد بن عبدالله بن عبيد بن عمير ضعيف دئ. امام بخاري رحمه الله په ضعفاء ص: ۲۸ کي، امام مسلم رحمه الله په صحيح مسلم ج: ۱، ص: ۲۰ کي، امام نسائي رحمه الله په ضعفاء صغير ص: ۲۵ کي، امام دار قطني رحمه الله په دار قطني ج: ۱، ص: ۱۲۱ کي او په خپله امام بيهقي رحمه الله هم دی ضعيف بللی دئ.

په ميزان الاعتدال کي راغلي دي چي امام بخاري رحمه الله فرمايي چي دا راوي منکر الحديث دئ او امام نسائي رحمه الله فرمايي چي متروک دئ. (ميزان الاعتدال، ج: ۳، ص: ۵۹۰) په لسان الميزان ج: ۵، ص: ۲۱٦ کي هم دې راوي ته ضعيف ويل سوي دئ.

**د غير مقلدينو پنځم دليل:**

عمرو بن شعيب د خپل پلار په واسطه د خپل نيکه څخه روايت کوي چي حضور اکرم صلى الله عليه وسلم به انصات (چپوالي) کوي او صحابه کرامو رضي الله عنهم به قرآئت کوي. (کتاب القرآءة، ص: ٦۹-۸٦)

**جواب:**

عمرو بن شعیب که څه هم په خپله ثقه دئ خو کله چي هغه د عن ابیه عن جده روایت کوي نو دا بالاتفاق قابل قبول نه دئ. امام علي بن المدیني رحمه الله هم تصریح کوي چي عمرو بن شعیب د عن ابیه عن جده روایت وکړي نو هغه ضعیف دئ. (تهذیب التهذیب، ج: ۸، ص: ۳)

پر دې سند باندي کلام او د دې ضعف په ډېرو کتابو کي سته، د مثال په ډول په سنن ترمذي ج: ۱، ص: ۴۳ او ۸۲، میزان الاعتدال ج: ۲، ص: ۲۶۳، تهذیب التهذیب ج: ۸، ص: ۵۳، مستدرک حاکم ج: ۱، ص: ۱۹۷.

**د غیر مقلدینو شپږم دلیل:**

د عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده په سند سره روایت چي چا د امام په سکوت (چپوالي) کي سورة فاتحه و نه ویل د هغه لمونځ کامل نه دئ. (کتاب القرآءة، ص: ۵۲)

**جواب:**

د دې سند ضُعف موږ په پنځم دلیل کي بیان کړي او د دې څخه پرته په دې روایت کي محمد بن عبدالله بن عبید بن عمیر هم سته د کوم ضعف چي د څلورم دلیل په جواب کي بیان سو.

**د غیر مقلدینو اووم دلیل:**

حضرت سعید بن جبیر رحمه الله فرمایي چي ښه ده چي د سلفو څخه چي به چا د خلکو امامت کوي نو الله اکبر به ئې وو ایه او چپ به سو تر هغه وخته پوري چي د ده به دا یقین وسو چي اوس به نو هر مقتدي سورة فاتحه ویلې وي نو بیا به ئې قرآئت شروع کوي بیا به نو مقتدیان چپ سول.

**جواب:**

د دې په سند کې دوه روایان ضعیف دي؛ یو عبدالله بن رجاء مکي دئ. د دې راوي امام احمد، ازدی، او ساجي رحمة الله علیهم تضعیف کړی دئ. (میزان الاعتدال، ج: ۲، صـ: ۲۲۱. تهذیب التهذیب، ج: ۵، صـ: ۲۱۱) دوهم عبدالله بن عثمان بن خُثیم دئ. دا راوي امام نسائي، امام ابن معین، امام ابو حاتم، حافظ ابن حبان، امام ابن المدیني او امام دار قطني رحمة الله علیهم ضعیف بللی دئ. (میزان الاعتدال، ج:۲، صـ: ۴۵۹. تهذیب التهذیب، ج: ۵، صـ: ۳۱۵. نصب الرایه، ج: ۱، صـ: ۳۵۳)

**د غیر مقلدینو اتم دلیل:**

د ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې د امام لپاره دوې سکتې (چپوالي) دئ دا د فاتحې د لوستلو لپاره غنیمت وګڼې. (جزء القرآءة، صـ: ۵۸)

**جواب:**

په دې کې اوله خبره خو دا ده چې دا د ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ که د ابو سلمه تابعي رحمه الله څخه؟ راویانو ته په دې کې شک دئ د دې څخه پرته په دې روایت کې موسی بن مسعود ضعیف دئ. دې رواي ته امام احمد، امام ترمذي، امام ابن خزیمه، بزار، ابو حاتم، عمرو بن علي الفلاس، ابو احمد الحاکم، امام حاکم، ابن قانع، ساجي او دار قطني رحمة الله علیهم ضعیف ویلي دي. (میزان الاعتدال، ج: ۲، صـ: ۲۲۱. تهذیب التهذیب، ج: ۱۰، صـ: ۳۷۱)

**د غیر مقلدینو نهم دلیل:**

د ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې د امام په سکته (چپوالي) کې د فاتحې د ویلو پرته لمونځ نیمګړی دئ. (کتاب القرآءة، صـ: ٦٦)

**جواب:**

د دې حدیث په سند کې اسحاق بن عبدالله بن ابی فروه ضعیف دئ. دا راوي امام مالک، امام شافعي، امام نسائي، ابو حاتم، ابن حبان، ابو زرعه، ابن عمار، علي بن المدیني، دار قطني، برقاني، ابن خزیمه، خلیلي، بزار، ابن جارود، عقیلی، دولابی، ابو العرب، ساجي او ابن شاهین رحمة الله علیهم ضعیف بللی دئ. (تهذیب التهذیب، ج: ۱، ص: ۲۴۱)

**د غیر مقلدینو لسم دلیل:**

حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه وفرمایل چې: صحابه وو رضي الله عنهم به په رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې هغه وخت (سورة فاتحه) لوستل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به چپ وو، بیا چې به ده قرآئت کوي نو صحابه وو رضي الله عنهم به هیڅ نه ویل بیا چې به کله رسول الله صلی الله علیه وسلم چپ سو نو صحابه وو رضي الله عنهم به لوستل. (کتاب القرآءة)

**جواب:**

دا حدیث هم ضعیف دئ ځکه چې د دې په سند کې دوه راویان ضعیف دي. یو ابو عبدالله؛ دا د امام بیهقي رحمه الله استاذ وو د ده په باره کې ابن طاهر رحمه الله فرمایي چې په باطن کې ډېر سخت او متعصب شیعه وو. د حضرت معاویه رضي الله عنه څخه به ئې بد وړل. (نعوذ بالله من ذلک) (تذکرة الحفاظ، ج:۲، ص: ١٦٦. میزان الاعتدال، ج: ٣، ص: ٦٠٨) او دوهم ضعیف راوي په دې کې عبدالسلام بن صالح هروي دئ. دی امام ابو حاتم، ابو ذرعه، عقیلی، ابن عدی، نسائي او دار قطني رحمة الله علیهم ضعیف بللی دئ. (میزان الاعتدال، ج: ٢، ص: ٦١٦. تقریب التهذیب، ج: ١، ص: ٦٠٠) امام ساجی، امام ابو حاتم، امام ابن حبان او ابن طاهر رحمة الله علیهم هم دی ضعیف بللی دئ. (تقریب التقریب، ج: ٦، ص: ٣٢٢)

**د غیر مقلدینو یوولسم دلیل:**

حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ وفرمایل: چي رسول الله ﷺ په یوه خطبه کي داسي ارشاد وفرمایه: کوم سړی چي د امام سره لمونځ کوي هغه ته پکار ده چي کله امام سکته وکړي (چپ سي) نو په هغه سکته (چپوالي) کي دي د امام څخه مخکي سورة فاتحه ووایي. (کتاب القرآءة)

**جواب:**

دا حدیث هم ضعیف دئ ځکه چي په دې کي دوه راویان ضعیف دي. یو ابو عبدالله چي مخکي ئې یادونه وسول. دوهم ضعیف راوي عبدالله بن لهیعه بن عقبه الحضرمي دئ کوم چي ابن معین، یحیی بن سعید، ابن المدیني، ابن مهدي، ابو ذرعه، نسائي، امام جوزجاني، ابن عدي او امام بخاري رحمهم الله ضعیف ویلي دي. (میزان الاعتدال، ج: ۲، ص: ۴۷۵)

**د غیر مقلدینو دوولسم دلیل:**

په سنن کبری کي د محمد بن عائشه حدیث دئ.

**جواب:**

هغه هم ضعیف دئ. یو خو په هغه کي دا صحابي معلوم نه دئ چي د کوم صحابي څخه روایت دئ او په هغه کي ابراهیم بن ابی اللیث ضعیف راوي دئ. (لسان المیزان، ج: ۱، ص: ۹۳. راوي: ۲۷۰)

**د غیر مقلدینو دیارلسم دلیل:**

په سنن کبری کي د ابو قتاده رضي الله عنه څخه روایت دئ.

**جواب:**

د دې په سند کي مالک بن یحیی ضعیف راوي دئ. (تهذیب، ج: ۱۰، ص: ۳۸۱. میزان الاعتدال، ج: ۳، ص: ۴۲۹)

**د غیر مقلدینو څوارلسم دلیل:**

په جزء القرآءة کي د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دئ.

**جواب:**

د دې په سند کي یو راوي ابو قلابه دئ چي مدلس دئ او مدلس چي کله په عنعنه سره روایت وکړي نو هغه د قبول وړ نه دئ.

# د خبرو پای

شریعت مقتدیانو ته د امام د تابعداري حکم کړی دئ خو غیر مقلدین حضرات امام ته د مقتدیانو د اتباع حکم کوي چي د دوی لپاره چوپتیا غوره کړي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان خو دا دئ چي امام قرآئت کوي نو تاسي چپ سئ لیکن د غیر مقلدینو فیصله دا ده چي د مقتدیانو لپاره دي امام چپ سي. امام ابن قیم رحمه الله فرمایي چي په یوه صحیح حدیث سره هم دا ثابته نه ده چي رسول الله صلی الله علیه وسلم دي یو ازي د مقتدیانو د فاتحې ویلو لپاره سکته کړې وي. (غیث الغمام، ص: ۱۷۵)

پاته دا سوال سو چي که د امام سورة فاتحه د مقتدیانو لپاره کفایت کوي بیا د دا نورو ارکانو اعاده د مقتدي لپاره ولي ضروري ده؟ لکه ثناء، تسبیحات، درود شریف او نور؟ د دې جواب دا دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم مقتدي ته دا نور ارکان د امام سره یو ځای د ادا کولو حکم کړی دئ لیکن د امام د قرآئت په وخت کي ئې د قرآئت حکم نه دي کړی بلکي د چپوالي حکم ئې کړی دئ.

# "آمین" کرار ویل

**۱- دلیل:**

عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ رضي الله عنه اَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَرَاَ غَيْرَ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَ لَا الضَّآلِّيْنَ فَقَالَ: آمِيْن وَ خَفَضَ بِهِ صَوْتَهُ. (ترمذی، ج:۱، ص:۵۸)

**۲- دلیل:**

عَنْ اَبِيْ وَائِلٍ رضي الله عنه قَالَ: كَانَ عُمَرُ وَ عَلِيٌّ رضي الله عنهما لَا يَجْهَرَانِ بِبِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَلاَ بِالتَّعَوُّذِ وَلاَ بِالتَّامِيْنِ.(طحاوی،ج:۱، ص:۱۳۴)

**۳- دلیل:**

قَالَ عَطَاءٌ رحمه الله آمِيْنَ دُعَاءٌ. (بخاری، ج:۱، ص: ۱۰۷)

ژباړه: عطاء رحمه الله فرمايي چي آمين دعا ده او د دعا قانون په سورة الاعراف آيت: **۵۵** كي داسي بيان سوی دئ: ﴿ٱدۡعُواْ رَبَّكُمۡ تَضَرُّعًا وَخُفۡيَةً﴾.

**د ترجيح وجه:**

لكه څنګه چي اعوذ بالله په قرآن كي نه ليكل كېږي همدا ډول آمين هم نه ليكل كېږي، نو دا دواړه د قرآن جزء نه دي او كوم شی چي د قرآن جزء نه وي نو هغه په لمانځه كي كرار ويل كېږي. پاته سوه دا خبره چي كه چيري رسول الله صلى الله عليه وسلم يو وخت آمين په زوره ويلي وي نو هغه امت ته د تعليم لپاره دئ.

# په زوره د آمین ویلو د دلایلو جوابونه

**د غیر مقلدینو لومړی دلیل:**

د ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چې "رفع بها صوته" چې رسول الله ﷺ په زوره آمین وایه. (ابو داؤد، ص: ۱۳۵. ابن ماجه، صـ: ٦١)

**جواب:**

دا حدیث ضعیف دئ ځکه چې د دې په سند کې بشر بن رافع الحارثی ضعیف راوي دئ. (تقریب التهذیب، ج: ۱، صـ: ۱۲۷. بیروت)

د غیر مقلدینو دوهم دلیل:

عبدالجبار بن وائل د خپل پلار څخه روایت کوي چې ما په نبي کریم ﷺ پسې لمونځ وکړي رسول الله ﷺ آمین ووایه ما هغه واؤریدي او زه د هغه تر شا وم. (نسائي، صـ: ۱۴۷)

جواب: دا حدیث هم ضعیف دئ ځکه چې د عبدالجبار بن وائل د خپل پلار څخه اوریدل ثابت نه دئ، ځکه چې امام نووی رحمه الله په شرح المهذب ج: ۳، صـ: ۱۰۴ کې لیکي چې د حدیثو امامانو پر دې خبره متفق دي چې عبدالجبار بن وائل د خپل پلار څخه هیڅ نه دي اوریدلي بلکي د محدثینو لویه ټولۍ دا وايي چې دی د خپل پلار د وفات څخه شپږ میاشتي وروسته پیدا سوی دئ.

# رکوع ته د تلو او د رکوع څخه د را پورته کېدو په وخت کې رفع الیدین (د لاسو پورته کول) ښه نه دئ

دا اختلاف د صحابه کرامو رضی الله عنهم د دور څخه را روان دئ مگر د غیر مقلدینو څخه پرته بل هیچا دا د حق او باطل معیار نه دي جوړ کړی. د رفع الیدین او ترک رفع الیدین دا دواړه قسمه روایتونه سته که څه هم د رفع الیدین په باره کې روایتونه ډېر دئ او د ترک رفع الیدین روایتونه لږ دي. د دې وجه دا ده چې په امت کې پر ترک رفع الیدین باندې تعامل دئ او کوم شی چې په تعامل کې راسي نو د هغه روایتونه لږ سي بلکې څنگه چې تعامل ډېرېږي روایتونه گرسره ختمېږي ځکه چې اوس د روایتونه ضرورت نه سو پاته. تعامل په خپله تر ټولو غټ دلیل جوړ سي د ترک رفع الیدین د تعامل دلیل دا دئ چې په کوفه کې چې د اسلام د عسکرو اډه وه او په کوم کې چې د پنځو سوو (۵۰۰) صحابه کرامو رضی الله عنهم شتون ثابت دي یوه هم رفع الیدین نه کوي. په "المدونة الکبری" ج: ۱، ص: ۷۱ کې تبع تابعي امام مالک رحمه الله فرمایي چې د تکبیر تحریمه څخه وروسته په لمانځه کې یو رفع الیدین کوونکی نه پېژنم. همدا ډول کبار صحابه کرام رضی الله عنهم لکه: ابوبکر صدیق، حضرت عمر، حضرت علي او عبدالله بن مسعود رضی الله عنهم د تکبیر تحریمه څخه پرته رفع الیدین نه کوي او صغار صحابه کرام رضی الله عنهم په خپل دور کې رفع الیدین د دې لپاره شروع کړی وو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا عمل چې د خلکو د سترگو څخه تقریباً پټ سوی وو د خلکو مخته راسي او د دې سلسلې چې کوم روایتونه دي هغه خوندي سي. په بخاري شریف کې د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه

روایت دئ پر رفع الیدین کولو باندي چي د هغه پر بنیاد باندي د نن سبا غیر مقلدین په خپله ژبه طعن کوي (بد وایي) پر هغو خلکو باندي چي رفع الیدین نه کوي، حال دا دئ چي د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه په دې باره کي شپږ ډوله روایتونه نقل سوي دي:

۱. یوازي د تکبیر تحریمه په وخت کي رفع الیدین.
۲. یوازي دوه ځایه رفع الیدین: د تکبیر تحریمه او د رکوع څخه د سر را پورته کولو په وخت کي لکه څنګه چي په مؤطا امام مالک کي دا روایت سته.
۳. درې ځله رفع الیدین: د تکبیر تحریمه په وخت کي، رکوع ته د تلو په وخت کي، د رکوع څخه د را پورته کېدو په وخت کي لکه څنګه چي په بخاري او نورو کي سته. همدا روایت د نن سبا د غیر مقلدینو علماء دلیل دئ.
۴. څلور ځله رفع الیدین: درې خو هغه دي چي پورته بیان سول او څلورم د اولي ناستي څخه د را پورته کېدو په وخت کي، دا روایت هم په صحیح بخاري کي سته.
۵. په بعضو روایتو کي د دې څلورو ذکر سوي ځایو څخه ماسېوا سجدې ته د تلو او د را پورته کېدو په وخت کي هم د رفع الیدین ذکر سته لکه څنګه چي په سنن نسائي کي راغلي دئ. او حافظ ابن حجر رحمه الله دا روایت اصح روایت بللی دئ او امام بخاري رحمه الله په جزء رفع الیدین کي پر همدې باندي د حسن بصري، مجاهد، طاؤس، قیس بن سعد او د الحسن بن مسلم رحمة الله علیهم عمل را نقل کړی دئ.
۶. په بعضو روایتو کي خو د هر واري د کښته کېدو او را پورته کېدو په وخت کي د رفع الیدین صراحت سته. دا روایت

حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري شرح البخاري کي را نقل کړی دئ دا روایت هم صحیح دئ. په الاستذکار ج: ۲، ص: ۱۰۵ او التمهید ج: ۹، ص: ۲۲۸ د صحابه وو رضي الله عنهم او تابعینو رحمة الله علیهم د یو جماعت عمل د همدې مطابق وو.

نتیجه ئې دا سوه چي حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه هغه روایت په کوم کي چي د تکبیر تحریمه څخه ماسېوا رکوع ته د تلو او د رکوع څخه د را پورته کېدو په وخت کي د رفع الیدین ثبوت سته که څه هم د سند په لحاظ صحیح دئ لیکن د محدثینو د ضابطې مطابق په هغه کي اضطراب دئ چي ختمېدل ئې ممکن نه دئ چي پر یوه روایت عمل وسي نور ټوله روایتونه پرېښوول سي ځکه چي دا خبره خو هم ممکنه ده او کېدای سي چي د دغه ذکر سوي صورتو څخه پر هر یوه باندي رسول اکرم صلی الله علیه وسلم عمل کړی دئ. د دې تفصیل څخه روښانه سول چي د حضرت ابن عمر رضي الله عنه د روایت څخه چي څنګه رفع الیدین ثابت دئ همداسي ترک رفع الیدین هم ثابت دئ نو لهذا پر رفع الیدین نه کولو باندي د سنت د پرېښوولو طعنه په هیڅ ډول صحیح نه ده بلکي که چیري د مذکوره روایتو پر بنیاد باندي یو څوک په خپله غیر مقلدینو ته د ترک سنت الزام وکړي نو د دې الزام جواب به د دوی سره څه وي؟

اوس د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه خپل عمل وګورئ په طحاوي او مؤطا امام محمد کي راغلي دي چي ابن عمر رضي الله عنه یوازي د تکبیر تحریمه پر وخت رفع الیدین کوي. کوم صحابي چي د رفع الیدین روایتونه هم را نقل کړي بیا د هغه خپل عمل د هغه خلاف وي نو دا د دې دلیل دئ چي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم آخري عمل ترک رفع الیدین دئ. خلاصه دا ده چي د رفع الیدین حکم په شروع کي وو وروسته منسوخه سو.

**۱- دلیل:**

عَنْ عَلْقَمَةَ رحمه الله قَالَ: قَالَ عَبْدُاللهِ بْنُ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه: اَلاَ اُصَلِّيْ بِکُمْ صَلٰوۃَ رَسُوْلِ اللهِ صلى الله عليه وسلم؟ فَصَلّٰى فَلَمْ يَرْفَعْ يَدَيْهِ اِلَّا فِيْ اَوَّلِ مَرَّةٍ، قَالَ: وَ فِي الْبَابِ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ اَبُوْ عِيْسٰى: حَدِيْثُ ابْنِ مَسْعُوْدٍ حَدِيْثٌ حَسَنٌ وَ بِهٖ يَقُوْلُ غَيْرُ وَاحِدٍ مِّنْ اَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وَ التَّابِعِيْنَ وَ هُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ وَ اَهْلَ الْکُوْفَةِ.
(ترمذی،ص:۵۹، و رجاله رجال مسلم)

ژباړه: د حضرت علقمه رحمه الله روایت دئ هغه فرمایي چې حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وفرمایل چې زه تاسو ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم په شان لمونځ در نه کړم؟ د هغه وروسته هغه لمونځ راکړي او د لومړی ځل (تکبیر تحریمه) څخه پرته په هیڅ ځای کي رفع الیدین نه وکړي. امام ترمذي رحمه الله فرمایي چې د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د دې روایت څخه ماسېوا د ترک رفع الیدین په باره کي د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه څخه هم حدیث مروي دئ. د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه منقول دا حدیث حسن دئ او ډېر اهل علم صحابه رضي الله عنهم او تابعین رحمة الله عليهم یوازي د تکبیر تحریمه په وخت کي د رفع الیدین قائل دي او همدا خبره (د فقه او حدیث امام) سفیان ثوري رحمه الله او اهل کوفه کوي. (ترمذي، ص: ۵۹)

دا حدیث صحیح دئ. (محلی بن خزم، ج: ۲، ص: ۳۵۸) د دې ټول راویان د مسلم شریف راویان دي. (الجوهر النقی، ج: ۱، ص: ۱۳۷)

**یادونه:**

دا حدیث په ابو داؤد، ج: ۱، ص: ۱۰۹، نسائي. ص: ۱۵۸ - ۱۶۱، مصنف ابن ابی شیبه. ج: ۱، ص: ۱٦۷. مشکوة، ص: ۷۷. مسند امام

احمد، ج: ۵. صـ: ۲۵۱. بيهقي، ج: ۲، صـ: ۷۸. سنن دار قطني، ج: ۲، صـ: ۲۹۶. محلی ابن خزم، ج: ۳، صـ: ۲۳۵. شرح السنة بغوي، ج: ۳، صـ: ۲۴. شرح معاني الآثار، ج: ۱، صـ: ۱۶۲ کي هم سته.

**۲- دلیل:**

قَالَ اَبُوْحَنِیْفَةِ رحمه الله حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ اِبْرَاهِیْمَ عَنْ عَلْقَمَةَ وَ الْاَسْوَدِ عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صلى الله عليه وسلم کَانَ لَا یَرْفَعُ یَدَیْهِ اِلاَّ عِنْدَ اِفْتِتَاحِ الصَّلٰوةِ وَ لَا یَعُوْدُ لِشَيْئٍ مِنْ ذٰلِکَ. (مسند امام اعظم، ج: ۱، ص: ۵۰. میرمحمد کتب خانه)

ژباړه: د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم به د لمونځ د شروع کولو په وخت کي لاسونه پورته کول بیا به ئې دوهم واري نه پورته کول.

**۳- دلیل:**

عَنْ عَبْدِاللهِ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم اَنَّهُ کَانَ یَرْفَعُ یَدَیْهِ فِيْ اَوَّلِ تَکْبِیْرَةٍ ثُمَّ لَا یَعُوْدُ. (طحاوی، ج:۱، ص: ۱۴۶، و سنده قوی)

ژباړه: حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روایت کوي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم په تکبیر تحریمه کي لاسونه پورته کول بیا ئې دوهم واري نه پورته کول.

**۴- دلیل:**

عَنْ بَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رضي الله عنه اَنَّ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم کَانَ اِذَا اِفْتَتَحَ الصَّلٰوةَ رَفَعَ یَدَیْهِ ثُمَّ لَا یَرْفَعُهُمَا حَتّٰی یَفْرُغَ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۱، ص: ۲۶۷)

ژباړه: د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم به یوازي د اول تکبیر په وخت کي لاسونه پورته کول بیا ئې د لمانځه څخه تر فراغت تر وخته پوري په یوه ځای کي هم نه پورته کول.

**یادونه:**

کله چي په یوه مسئله کي د رسول الله ﷺ په احادیثو کي تعارض راسي، د مثال په توگه رکوع ته د تلو او د را پورته کېدو په وخت کي رفع الیدین نه کول هم ثابت دئ او کول ئې هم ثابت دئ نو په دې وخت کي څه کول پکار دئ؟ د دې په باره کي امام ابو داؤد رحمه الله فرمایي:

"اِذَا تَنَازَعَ الْخَبَرَانِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ اُنْظُرْ اِلٰى عَمَلِ اَصْحَابِهِ بَعْدَهُ"

یعني کله چي په یوه مسئله کي د رسول الله ﷺ حدیثونه سره متعارض سي نو هغه وخت دي د صحابه کرامو رضي الله عنهم هغه عمل ته وکتل سي کوم عمل چي دوی د رسول الله ﷺ وروسته کړی وي.

**د صدیق اکبر رضي الله عنه عمل:**

**۵- دلیل:**

عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بِنْ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه قَالَ: صَلَّيْتُ خَلْفَ النَّبِيِّ ﷺ وَ اَبِيْ بَكْرٍ وَ عُمَرٍ رضي الله عنهما فَلَمْ يَرْفَعُوْا اَيْدِيَهُمْ اِلَّا عِنْدَ اِفْتِتَاحِ الصَّلٰوةِ. وَ قَالَ اِسْحَاقُ: وَ بِهِ نَاْخُذُ فِي الصَّلٰوةِ كُلِّهَا. (دار قطنی، ج:۱، ص:۲۹۵. الجوهر النقی، ج:۱، ص: ۷۹. و قال الحافظ الماردینی اسناده جید)

ژباړه: حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وفرمایل چي ما په نبي کریم ﷺ او حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر رضي الله عنهما پسي لمونځ کړی دئ د دوی څخه یوه هم د تکبیر تحریمه څخه پرته په یو بل تکبیر کي خپل لاسونه نه دي پورته کړي. محدث اسحاق رحمه الله وایي چي زموږ په ټولو لمونځو کي پر همدې باندې عمل دئ.

**د حضرت عمر فاروق رضی اللہ عنہ عمل:**

**٦- دليل:**

عَنِ الْاَسْوَدِ رحمہ اللہ قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ عُمَرَ رضی اللہ عنہ فَلَمْ يَرْفَعْ يَدَيْهِ فِيْ شَيْئٍ مِنْ صَلاَتِهِ اِلاَّ حِيْنَ اِفْتَتَحَ الصَّلاَةَ. قَالَ عَبْد الملک وَ رَاَيْتُ الشعبی و ابراهيم و ابا اسحاق رحمۃ اللہ علیہم لَايَرْفَعُوْنَ اَيْدِيَهُمْ اِلَّا حِيْنَ يَفْتَحُوْنَ الصَّلٰوةَ. (مصنف ابن ابی شيبه، ج:١، ص:٢٦٨. وَ قَالَ الْحَافِظُ ابْنُ حَجَرٍ: رِجَالُهُ ثُقَاتٌ. الدرايه، ص: ٨٥)

ژباړه: مشهوره تابعي حضرت اسود رحمہ اللہ بيان کوي چي ما د حضرت عمر رضی اللہ عنہ سره لمونځ کړی دئ هغه خپل لاسونه يوازي د لمانځه په شروع کي پورته کړه. د سند يو راوي عبدالملک وايي چي ما امام شعبي، امام ابراهيم نخعي او ابو اسحاق رحمۃ اللہ علیہم وليدل چي دغه د حديثو امامانو يوازي د تکبير تحريمه په وخت کي لاسونه پورته کول.

**د حضرت علي کرم اللہ وجہہ عمل:**

**٧- دليل:**

عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ رحمہ اللہ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ: رَاَيْتُ عَلِيَّ بْنَ اَبِيْ طَالِبٍ رَفَعَ يَدَيْهِ فِي التَّكْبِيْرَةِ الْاُوْلٰى مِنَ الصَّلٰوةِ الْمَكْتُوْبَةِ وَ لَمْ يَرْفَعْهُمَا فِيْمَا سِوٰى ذٰلِكَ. (مصنف ابن ابی شيبه، ج:١، ص:٢٦٧. مؤطا امام محمد، ص:٩٢. وَ قَالَ الْحَافِظُ الزَّيْلَعِي وَ هُوَ اَثَرٌ صَحِيْحٌ. نصب الرايه، ج:١، ص:٤٠٦. وَقَالَ الْحَافِظُ ابْنُ حَجَرٍ: رِجَالُهُ ثُقَاتٌ. الدرايه، ص:٨٥)

(د حضرت علي رضي الله عنه د شاگرد) د کلیب رحمه الله بیان دئ چي حضرت علي رضي الله عنه د تکبیر تحریمه په وخت کي رفع الیدین کوي د دې وروسته ئې بیا نه کوي.

**د عبدالله بن عمر رضي الله عنه عمل:**

**۸- دلیل:**

عَنْ مُجَاهِدٍ رحمه الله قَالَ: مَا رَاَیْتُ ابْنَ عُمَرَ رضي الله عنه یَرْفَعُ یَدَیْهِ اِلَّا فِیْ اَوَّلِ مَا یَفْتَتِحُ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج:۱، ص: ۲۶۸. و رجال اسناده رجال البخاری)

ژباړه: امام مجاهد رحمه الله بیان کوي چي ما حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه دي لیدلی چي دی رفع الیدین کوي لیکن د لمانځه په شروع کي.

**د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه عمل:**

**۹- دلیل:**

عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه اَنَّهُ کَانَ یَرْفَعُ یَدَیْهِ اِذَا اِفْتَتَحَ الصَّلٰوةَ. (مؤطا امام محمد، ص: ۹۴)

ژباړه: حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه یوازي د لمانځه په شروع کي لاسونه پورته کول.

**د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه عمل:**

**۱۰- دلیل:**

اِنَّ اَبَا هُرَیْرَةَ رضي الله عنه کَانَ یُصَلِّیْ بِهِمْ فَکَبَّرَ کُلَّمَا خَفَضَ وَ رَفَعَ. وَ قَالَ اَبُوْ جَعْفَرٍ: وَ کَانَ یَرْفَعُ یَدَیْهِ حِیْنَ یُکَبِّرُ وَ یَفْتَتِحُ الصَّلَاةَ. (مؤطا امام محمد، ص:۹۰)

ژباړه: ابوهریرة رضي الله عنه به امامت ورکوي د کښته کېدو او را پورته کېدو په وخت کي به ئې تکبیر وایه. ابوجعفر دا خبره نوره پسي روښانه کړه چي د لمانځه په شروع کي کله چي به ئې په تکبیر تحریمه ویل نو لاسونه به ئې پورته کول.

**د حضرت عبدالله بن مسعود او حضرت علي رضي الله عنهما د شاګردانو عمل:**

**۱۱- دلیل:**

عَنْ اَبِیْ اِسْحَاق قَالَ: كَانَ اَصْحَابُ عَبْدُاللهِ رضي الله عنه وَ اَصْحَابُ عَلِیّ كرم الله وجهه لَا يَرْفَعُوْنَ اَيْدِيَهُمْ اِلاَّ فِیْ اِفْتِتَاحِ الصَّلاَةِ. قَالَ وَكِيْعُ: ثُمَّ لاَ يَعُوْدُوْنَ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج:۱، ص:۲٦۷. الجوهر النقی، ج:۲، ص: ۷۹. و سنده صحیح علی شرط الشیخین)

ژباړه: د ابو اسحاق څخه روایت دئ چي د حضرت عبدالله بن مسعود او حضرت علي رضي الله عنهما شاګردانو یوازي د تکبیر تحریمه په وخت کي رفع الیدین کوي.

**یادونه:**

په دې مسئله کي د صحابه کرامو رضي الله عنهم او د هغه څخه وروسته د فقهاوو او د محدثینو طریقه مختلفه ده لیکن د خلفاء راشدینو رضي الله عنهم څخه د تکبیر تحریمه څخه ماسېوا رفع الیدین ثابت نه دئ نو په دې وجه د دې په راجح کېدو کي هیڅ خبره نه سي کېدای.

# وتر درې (۳) رکعته یو ځای کول

احناف درې (۳) رکعته وتر کوي او غیر مقلدینو د یوه رکعت قائل دي، زموږ دلایل په دې باره کې هم ډېر زیات دي.

**۱- دلیل:**

د حضرت عائشې صدیقې رضي الله عنها یو اوږد حدیث په کوم کې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تهجد د لمانځه ذکر دئ د هغه په آخر کې دا الفاظ دي: "ثُمَّ يُصَلِّيْ ثَلَاثًا" (بخاري، ج: ۱، ص: ۱۵۴. مسلم، ج: ۱، ص: ۲۵۴)

**۲- دلیل:**

عَنْ عَبْدِ الْعَزِيْزِ بْنِ جُرَيْجٍ قَالَ: سَئَلْتُ عَائِشَةَ رضي الله عنها بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ يُوْتِرُ رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم؟ قَالَتْ: كَانَ يَقْرَأُ فِي الْأُوْلٰى بِسَبِّحِ اسْمِ رَبِّكَ الْاَعْلٰى، وَ فِي الثَّانِيَةِ بِقُلْ يَا اَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ، وَ فِي الثَّالِثَةِ بِقُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ وَ الْمُعَوِّذَتَيْنِ. (ترمذی، ج:۱، ص: ۱۰۶)

ژباړه: د حضرت عبدالعزیز بن جریج څخه روایت دئ چې ما د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه وپوښتل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په وترو کې څه ویل؟ حضرت عائشې رضي الله عنها وفرمایل: چې په اول رکعت کې ئې "سبح اسم ربک الاعلی" وایه، په دوهم رکعت کې ئې "قل یا ایها الکافرون" وایه او په دریم رکعت کې ئې "قل هو الله احد، قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس" وایه.

**٣- دليل:**

عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ اَنَّ عَائِشَةَ رضي الله عنها حَدَّثَتْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ لَا يُسَلِّمُ فِيْ رَكْعَتَيِ الْوِتْرِ. (نسائی، ج: ١، ص: ٢۴٨. مصنف ابن ابی شیبه، ج: ٢، ص:١٩٥. مستدرک حاکم، ج:١، ص: ٣٠٥)

ژباړه: د حضرت سعد بن هشام څخه روایت دئ چي ده ته حضرت عائشې رضي الله عنها دا بیان وکړي چي رسول الله ﷺ د وترو پر دوو رکعتو باندي سلام نه ګرځوي.

**۴- دليل:**

عَنْ اُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رضي الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يُوْتِرُ بِثَلَاثِ رَكْعَاتٍ. (نسائی، ج: ١، ص:٢۴٨)

د حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول ا لله ﷺ به وتر درې (٣) رکعته کول.

**٥- دليل:**

د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت دئ د کوم په آخر کي چي دا الفاظ دي:

"ثُمَّ اَوْتَرَ (رَسُوْلُ اللهِ ﷺ) بِثَلَاثٍ" (مسلم، ج:١، ص: ٢٦١)

**٦- دليل:**

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَقْرَاُ فِي الْوِتْرِ بِسَبِّحِ اسْمِ رَبِّكَ الْاَعْلٰى، وَ قُلْ يَا اَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ، وَ قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ فِيْ رَكْعَةٍ رَكْعَةٍ. (ترمذی،ج:١، ص:١٠٦)

ژباړه: د حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د وترو په اول رکعت کي سورة الاعلی، په دوهم رکعت کي سورة الکافرون او په دریم رکعت کي سورة الاخلاص وایه.

**٧- دليل:**

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُوْتِرُ بِثَلَاثٍ. (نسائي، ج: ١، ص: ٢٤٩)

ژباړه: د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وتر درې (٣) ركعته كول.

**٨- دليل:**

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ يُصَلِّيْ مِنَ اللَّيْلِ ثَمَانِ رَكْعَاتٍ وَيُوْتِرُ بِثَلَاثٍ. (نسائی، ج: ١، ص: ٢٤٩)

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به ماښام اته ركعته (د تهجد) كول او وتر به ئې درې (٣) ركعته كول.

**٩- دليل:**

عَنْ عَلِيٍّ كَرَّمَ اللهُ وَجْهَهُ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُوْتِرُ بِثَلَاثٍ. (ترمذی، ج: ١، ص: ١٠٦)

ژباړه: د حضرت علي كرم الله وجهه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به درې (٣) ركعته وتر كول.

**١٠- دليل:**

قَالَ الْقَاسِمُ وَرَاَيْنَا اُنَاسًا مُنْذُ اَدْرَكْنَا يُوْتِرُوْنَ بِثَلَاثٍ. (بخارى، ج: ١، ص: ١٣٥)

ژباړه: د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه لمسی حضرت قاسم بن محمد رحمه الله فرمايي چي د كله څخه چي موږ په ښه او بد پوه سوي يو د هغه وخت څخه موږ خلك وينو چي درې (٣) ركعته وتر كوي.

**١١- دليل:**

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّهُ كَانَ يُوْتِرُ بِثَلاَثٍ.(نسائي، ج: ۲، ص: ۱۹۴)

ژباړه: حضرت ابن عباس رضي الله عنه به وتر درې (۳) رکعته کول.

**۱۲- دلیل:**

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّهُ اَوْتَرَ بِثَلاَثِ رَكْعَاتٍ لَمْ يَفْصِلْ بَيْنَهُنَّ بِسَلاَمٍ (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۲، ص: ۱۹۴)

د حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روایت دئ چي هغه به وتر درې (۳) رکعته کول په مینځ کي ئې سلام نه ګرځوي.

**۱۳- دلیل :**

عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّهُ اَوْتَرَ بِثَلاَثٍ لَمْ يُسَلِّمْ اِلَّا فِيْ آخِرِهِنَّ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۲، ص: ۱۹۴)

ژباړه: د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چي هغه به وتر درې (۳) رکعته کول او سلام به ئې په آخر کي ګرځوي.

**۱۴- دلیل:**

عَنْ عُثْمَانَ بْنِ غَيَاثٍ رحمه الله قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُوْلُ الْوِتْرَ ثَلَاثٌ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۲، ص: ۱۹۴)

ژباړه: د عثمان بن غیاث رحمه الله څخه روایت دئ چي ما د حضرت جابر بن زید رضي الله عنه څخه واورېدل چي وتر درې (۳) رکعته دي.

**۱۵- دلیل:**

عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّهُ كَانَ يُوْتِرُ بِثَلاَثٍ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۱، ص: ۱۹۴)

ژباړه: د حضرت سعید بن جبیر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي هغه به وتر درې رکعته کول.

**١٦- دلیل:**

عَنْ اَبِیْ اِسْحَاقٍ رحمه الله قَالَ: کَانَ اَصْحَابُ عَلِیٍّ کرم الله وجهه وَ اَصْحَابُ عَبْدِاللّٰهِ رضي الله عنه لَایُسَلِّمُوْنَ فِیْ رَکْعَتَیِ الْوِتْرِ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۲، ص: ۱۹۵)

ژباړه: د حضرت ابو اسحاق رحمه الله څخه روایت دئ چي د حضرت علي کرم الله وجهه او حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه شاګردانو د وترو پر دوو (۲) رکعتو باندي سلام نه ګرځوي. (بلکي د دریم رکعت څخه وروسته ئې سلام ګرځوي)

**١٧- دلیل:**

عَنِ الْحَسَنِ رحمه الله قَالَ: اَجْمَعَ الْمُسْلِمُوْنَ عَلٰی اَنَّ الْوِتْرَ ثَلاَثٌ لَا یُسَلِّمُ اِلاَّ فِیْ آخِرِهِنَّ. (مصنف ابن ابی شیبه. ج:۲، ص:۱۹۴)

حضرت حسن بصري رحمه الله فرمايي چي د ټولو مسلمانانو پر دې خبره اجماع ده چي وتر درې (۳) رکعته دي او سلام د دې درو په آخرو کي دئ.

# د رکوع څخه مخکي دعا قنوت ویل

د احنافو په نزد دعا قنوت په وترو کي د رکوع څخه مخکي ویل کېږي لیکن د غیر مقلدینو په نزد د رکوع څخه وروسته ویل کېږي. زموږ دلایل وګورئ:

**١- دلیل:**

عَنْ اُبَیِّ بِنْ کَعْبٍ رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صلی الله علیه وسلم کَانَ یُوْتِرُ بِثَلَاثِ رَکْعَاتٍ ... وَیَقْنُتُ قَبْلَ الرُّکُوْعِ. (نسائي، ج: ۱، ص: ۲۴۸)

ژباړه: د حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم به درې (۳) رکعته وتر کول او دعا قنوت به ئې د رکوع څخه مخکي لوستل.

**۲- دلیل:**

عَنْ عَبْدِاللهِ رضی الله عنه اَنَّ النَّبِیَّ صلی الله علیه وسلم کَانَ یَقْنُتُ فِی الْوِتْرِ قَبْلَ الرُّکُوْعِ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۲، ص: ۲۰۱)

ژباړه: د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دئ چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم به په وترو کي د رکوع څخه مخکي دعا قنوت لوستل.

**۳- دلیل:**

اِنَّ ابْنَ عُمَرَ رضی الله عنه قَنَتَ فِی الْوِتْرِ قَبْلَ الرُّکُوْعِ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۲، ص: ۲۰۱)

ژباړه: حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه دعا قنوت په وترو کي د رکوع څخه مخکي ویل.

**۴- دلیل:**

عَنْ سَعِیْدِ بْنِ جُبَیْرٍ رضی الله عنه اَنَّهُ کَانَ یَقْنُتُ فِی الْوِتْرِ قَبْلَ الرُّکُوْعِ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۲، ص:۲۰۲)

ژباړه: د حضرت سعید بن جبیر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي هغه دعا قنوت په وترو کي د رکوع څخه مخکي ویل.

**۵- دلیل:**

اِنَّ ابْنَ مَسْعُوْدٍ رضی الله عنه وَ اَصْحَابَ النَّبِیِّ صلی الله علیه وسلم کَانُوْا یَقْنُتُوْنَ فِی الْوِتْرِ قَبْلَ الرُّکُوْعِ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج:۲، ص: ۲۰۲)

ژباړه: حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ او د نبي کريم ﷺ نورو صحابه کرامو ﷡ په وترو کې د رکوع څخه مخکې دعا قنوت ويل.

**٦- دليل:**

اِنَّ ابْنَ مَسْعُوْدٍ ﷛ كَانَ يَقْنُتُ السَّنَةَ كُلَّهَا فِي الْوِتْرِ قَبْلَ الرُّكُوْعِ. (كتاب الاثار، ص: ٥٥)

ژباړه: حضرت ابن مسعود ﷛ پوره کال په وترو کې د رکوع څخه مخکې دعا قنوت ويل.

**٧- دليل:**

عَنِ الْاَسْوَدِ ﷫ عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷛ اَنَّهُ كَانَ يَقْرَأُ فِيْ آخِرِ رَكْعَةٍ مِنَ الْوِتْرِ قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ، ثُمَّ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فَيَقْنُتُ قَبْلَ الرَّكْعَةِ. (جزء رفع اليدين)

ژباړه: د حضرت اسود ﷫ څخه روايت دئ چې حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ د وترو په آخري رکعت کې "قل هو الله احد" وايه بيا ئې رفع اليدين کوي او د رکوع څخه مخکې ئې قنوت ويل.

# په وترو کې بايد کوم قنوت وويل سي؟

په وترو کې چې کومه دعا قنوت د رسول الله ﷺ څخه ثابته ده او د صحابه کرامو ﷡ به چې د هغه پر ويلو باندې عمل وو هغه "اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ..." ده.

**١-دليل:**

عَنْ اَبِیْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ قَالَ: عَلَّمَنَا ابْنُ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه اَنْ نَقْرَاَ فِی الْقُنُوْتِ "اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِیْنُکَ وَ نَسْتَغْفِرُکَ ...." (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۲، ص: ۲۰۰)

د ابو عبد الرحمن څخه روایت دئ چي موږ ته ابن مسعود رضي الله عنه را وښوول چي موږ په قنوت کي ووایو "اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِیْنُکَ وَ نَسْتَغْفِرُکَ ..."

**۲- دلیل:**

عَنْ اِبْرَاهِیْمَ رحمه الله قَالَ: قُلْ فِیْ قُنُوْتِ الْوِتْرِ "اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِیْنُکَ وَ نَسْتَغْفِرُکَ ...." (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۲، ص: ۲۰۰)

ژباړه: حضرت ابراهیم نخعي رحمه الله وفرمایل چي د وترو په قنوت کي دا دعا وایه: "اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِیْنُکَ وَ نَسْتَغْفِرُکَ ...."

**۳- دلیل:**

عَنْ اُبَیِّ بْنِ کَعْبٍ رضي الله عنه اَنَّهٗ کَانَ یَقُوْلُ "اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِیْنُکَ وَ نَسْتَغْفِرُکَ ...." (مصنف عبد الرزاق، ج: ۳، ص: ۱۱۲)

حضرت ابی ابن کعب رضي الله عنه (به د وترو په قنوت کي) دا دعا ویل: "اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِیْنُکَ وَ نَسْتَغْفِرُکَ ...."

# تراویح شل (۲۰) رکعته دي

د روژې مبارکي په میاشت کي تراویح کول سنت مؤکد دي. رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله هم د روژې په میاشت کي په یو خاص اهتمام سره د تراویح لمونځ کوي او نورو ته ئې هم د دې ترغیب ورکوي او د

روژې په درو شپو ۲۳، ۲۵، ۲۷ کې نبي کریم ﷺ په جماعت سره د تراویحو لمونځ ورکړی دئ. نبي کریم ﷺ د دې بیرې، څخه چې دا پر امت باندې فرض نه سي د تراویح جماعت پرېښووې. په یوه صحیح حدیث سره دا ثابته نه ده چې نبي کریم ﷺ په دې شپو کې څو رکعته د تراویحو لمونځ وکړې یا ئې ورکړې. د اتو (۸) رکعتو روایت هم سته او د شلو (۲۰) رکعتو روایت هم سته مګر دواړه ضعیفه دي نو ځکه په یقین سره دا خبره کول ډېره ګرانه ده چې رسول الله ﷺ په روژه کې څو رکعته تراویح وکړې یا ئې ورکړې. په خپله غیر مقلدین هم دا خبره مني لکه څنګه چې مشهور غیر مقلد عالم نواب الحسن لیکي چې په یوه مرفوع حدیث کې هم د تراویح معین عدد نه دي راغلی. (العرف الجاری، صـ: ۸۴)

د نبي کریم ﷺ څخه وروسته د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خلافت تقریباً دوه کاله او درې میاشتې وو. د ده په خلافت کې ډېرو زیاتو داخلي او بهرني فتنو سر را پورته کړې. ابوبکر صدیق رضی الله عنه د هغه فتنو څخه دومره نه دي فارغه سوی چې یو بل طرفته توجه وکړي تر دې چې خپل رب ته ئې ځان ورسوي.

بیا د حضرت عمر رضی الله عنه خلافت راغلي د ده په خلافت کې د ده په حکم سره تقریباً د ۱۴ هـ څخه په مسجد نبوي کې تراویح شل (۲۰) رکعته باقاعده په جماعت سره شروع سولې، پر هغه د ټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم اتفاق وسو. خلفاء راشدین او جمهور صحابه رضی الله عنهم چې پر کوم شرعي حکم باندې اتفاق وکړي هغه عمل پر ټولو مسلمانانو لازم دئ چې په دې حدیث سره ثابته ده:

"عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَ سُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ. (ابن ماجه، صـ: ۵. مشکوة، صـ: ۳۰)

ژباړه: پر تاسو زما سنت او زما څخه وروسته د خلفاء راشدينو چې د هدايت څراغان دي د هغوی سنت په ټينګه سره نيول لازم دئ.

څوک چې دا نه مني هغه د اهل سنت و الجماعت څخه خارج دئ. په هندوستان کې حنفي ديوبنديان د اهل سنت و الجماعت د اصولو ډېر پابنده دي نو ځکه ديو ته اهل سنت ويل پر ځای دئ. په صحيح سندو سره دا خبره د حديث په کتابو کې موجوده ده چې د شلو (۲۰) رکعتو تراويحو د اهتمام سلسله د ۱۴ هـ څخه په مسجد نبوي کې د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې د هغه په حکم سره شروع سول او د ټولو صحابه کرامو رضي الله عنهم پر همدې باندي اتفاق وسو. يوه صحابي هم پر دې باندي اعتراض او نيوکه نه ده کړې، دې ته اجماع صحابه ويل کېږي. څنګه چې د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت څخه وروسته د حضرت عثمان رضي الله عنه په پوره دور کې او بيا د حضرت علي کرم الله وجهه په دور کې او بيا د ټولو صحابه کرامو رضي الله عنهم په دور کې او بيا د تابعينو، تبع تابعينو او ائمه مجتهدينو رحمة الله عليهم په زمانه کې سلسله په سلسله تر ۱۲۸۴ هـ پوري مسلمانانو شل (۲۰) رکعته تراويح کوي، نن هم په حرم شريف کې مسلمانان شل (۲۰) رکعته تراويح کوي. په هندوستان کې تر ټولو مخکې د دې ټولو علماوو او محدثينو خلاف فتوا ورکولو او شل (۲۰) رکعته تراويح ته د خلاف سنت ويلو او اته (۸) رکعته تراويح ته د مسنون عمل ويلو همت تر ټولو مخکې په ۱۲۸۴ هـ په اکبر آباد کې ښار کې يو غير مقلد مولوي وکړي. او په پنجاب کې تر ټولو مخکې محمد حسين ټبالوي ګورداس پوري وکړي، ګور داس پور هغه ځای دئ په کوم کې چې مرزا غلام احمد قادياني، مسټر غلام احمد پروېز او مودودي غوندي د اسلام دښمنان پيدا سوي دي.

د حضرت عمر، حضرت عثمان، حضرت علي او جمهور صحابه کرامو رضي الله عنهم پر شلو (۲۰) رکعتو تراویح او درې (۳) رکعته وترو باندي د اجماع ثبوت سته، پر دې باندي د مثال په توګه یو څو روایتونه درته را نقل کوو:

**۱- دلیل:**

وَاَكْثَرُ اَهْلُ الْعِلْمِ عَلٰى مَا رُوِىَ عَنْ عُمَرَ وعَلىٰ رضي الله عنهم وَغَيْرِهِمَا مِنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم عِشْرِيْنَ رَكْعَةً. (ترمذی باب ما جاء فی قیام شهر رمضان)

ژباړه: اکثر اهل علم د شلو (۲۰) رکعتو تراویحو قائله دي لکه څنګه چي د حضرت عمر او حضرت علي رضي الله عنهما او د دې څخه پرته د نبي کریم صلى الله عليه وسلم د صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه روایت دئ.

**۲- دلیل:**

مَالِكٌ عَنْ يَزِيْدِ بْنِ رُوْمَانَ اَنَّهُ قَالَ: كَانَ النَّاسُ يَقُوْمُوْنَ فِيْ زَمَانِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضي الله عنه فِيْ رَمَضَانَ بِثَلاَثٍ وَعِشْرِيْنَ رَكْعَةً. (مؤطا امام مالک، ص:۹۸)

ژباړه: حضرت امام مالک رحمه الله د یزید بن رومان څخه روایت کوي چي هغه وفرمایل چي د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کي به خلکو د شلو رکعتو تراویحو او د درو رکعتو وترو اهتمام کوي.

**۳- دلیل:**

عَنْ يَحْيَى بْنَ سَعِيْدٍ اَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رضي الله عنه اَمَرَ رَجُلاً يُصَلِّيْ بِهِمْ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً. (مصنف ابن ابی شیبه،ج: ۲، ص: ۲۸۵)

ژباړه: حضرت یحیی بن سعید فرمایي چي حضرت عمر رضي الله عنه به یو سړی مکلف کړی وو چي خلکو ته شل (۲۰) رکعته تراویح ورکړي.

**۴- دلیل:**

عَنْ اَبِي الْحَسَنَاءِ اَنَّ عَلِيًّا اَمَرَ رَجُلًا يُصَلِّيْ بِهِمْ فِيْ رَمَضَانَ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۲،ص: ۲۸۵)

ژباړه: حضرت علي کرم الله وجهه یو سړی ته حکم وکړي چي هغه په روژه کي شل رکعته تراویح ورکړي.

**۵- دلیل:**

عَنْ حَسَنٍ عَبْدِالْعَزِيْزِ بْنِ رَفِيْعٍ قَالَ: كَانَ اُبَيِّ بْنُ كَعْبٍ رضي الله عنه يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ فِيْ رَمَضَانَ بِالْمَدِيْنَةِ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً وَ يُوْتِرُ بِثَلَاثٍ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۲، ص: ۲۸۵)

ژباړه: عبدالعزیز بن رفیع فرمايي چي حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه به په مدینه منوره کي خلکو ته په روژه کي شل رکعته تراویح او درې رکعته وتر ورکول.

**٦- دلیل:**

عَنِ الْحَارِثِ اَنَّهُ كَانَ يَؤُمُّ النَّاسَ فِيْ رَمَضَانَ بِاللَّيْلِ بِعِشْرِيْنَ رَكْعَةً وَ يُوْتِرُ بِثَلَاثٍ وَ يَقْنُتُ قَبْلَ الرُّكُوْعِ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج:۲، ص: ۲۸۵)

ژباړه: حضرت حارث رضي الله عنه به د روژې په شپو کي په شلو رکعتو تراویحو سره د خلکو امامت کوي او درې رکعته وتر به ئې کول او قنوت به ئې د رکوع څخه مخکي لوستل.

**۷- دلیل:**

عَنْ سَعِيْدِ بْنِ عُبَيْدٍ اَنَّ عَلِيَّ بْنَ رَبِيْعَةَ كَانَ يُصَلِّيْ بِهِمْ فِيْ رَمَضَانَ خَمْسَ تَرْوِيْحَاتٍ وَ يُوْتِرُ بِثَلَاثٍ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۲، ص: ۳۹۳)

ژباړه: حضرت سعید بن عبید رحمه الله فرمايي چې حضرت علي بن ربیعه به په روژه کې خلکو ته پنځه ترویحات (یعني شل رکعته تراویح) او درې رکعته وتر ورکول.
یادونه: یوه ترویحه څلور رکعته تراویحو ته ویل کېږي.

**۸- دلیل:**

عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدِ رحمه الله قَالَ: كَانُوْا يَقُوْمُوْنَ عَلٰى عَهْدِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضي الله عنه فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ بِعِشْرِيْنَ رَكْعَةً. (السنن الكبرى للبيهقى، ج: ۲، ص: ۴۹۶)

ژباړه: د حضرت سائب بن یزید رحمه الله څخه روایت دئ هغه فرمايي چې د حضرت عمر رضي الله عنه په خلافت کې به په روژه کې د شلو رکعتو تراویحو اهتمام ټولو صحابه وو کوي. او د سلو سلو (۱۰۰) آیتو سورتونه به ئې ویل او د حضرت عثمان رضي الله عنه په خلافت کې خو خلکو د شدت قیام او طول قیام په وجه خپلې لکړې لګولې.

**۹-دلیل:**

عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْد رحمه الله قَالَ: ... وَ كَانَ الْقِيَامُ عَلٰى عَهْدِ عُمَرَ رضي الله عنه ثَلَاثَةً وَ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً. (مصنف عبد الرزاق، ج: ۴، ص:۲۶۲، حدیث نمبر: ۷۷۳۳)

ژباړه: حضرت سائب بن یزید رحمه الله وفرمایل چې د حضرت عمر رضي الله عنه په دور کې به تراویح (او وتر) درویشت (۲۳) رکعته وه. (شل رکعته تراویح او درې رکعته وتر)

**۱۰- دلیل:**

عَنْ اَبِیْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ السَّلَمِیِّ عَنْ عَلِیٍّ کَرَّمَ اللہُ وَجْہَهٗ قَالَ: دَعَا الْقُرَّاءَ فِیْ رَمَضَانَ فَاَمَرَ مِنْهُمْ رَجُلًا یُصَلِّیْ بِالنَّاسِ عِشْرِیْنَ رَکْعَةً. قَالَ: وَکَانَ عَلِیٌّ کَرَّمَ اللہُ وَجْہَهٗ یُوْتِرُ بِهِمْ. (السنن الكبرى للبيهقى، ج: ۲، ص:۴۹۶)

ژباړه: حضرت علي کرم الله وجهه به په روژه کي قاریان را وغوښتل بیا به ئې په هغوی کي یوه ته حکم وکړی چي په شلو رکعتو تراویحو سره د خلکو امامت وکړي او حضرت علي کرم الله وجهه به خلکو ته وتر ورکول.

**۱۱- دلیل:**

اَجْمَعَ الصَّحَابَةُ عَلٰی اَنَّ التَّرَاوِیْحَ عِشْرُوْنَ رَکْعَةً. (مرقاة، ج:۳، ص: ۱۹۴)

ژباړه: د صحابه کرامو رضي الله عنهم اجماع سوې ده پر شلو رکعتو تراویحو باندي.

د شلو رکعتو تراویحو په باره کي د صحابه کرامو او خلفاء راشدینو اجماعي عمل تاسو ولیدي. د حضرت عمر رضي الله عنه څخه وروسته به صحابه کرامو او سلف صالحینو کي د یوه څخه هم دا ثابته نه ده چي هغوی دي اته رکعته تراویح په جماعت سره په مسجد کي ادا کړي وي. کوم خلک چي د شلو رکعتو تراویحو خلاف آواز پورته کوي هغه په حقیقت کي د سلف صالحینو خلاف آواز پورته کوي.

# د اتو (۸) رکعتو تراویحو دلایلو ته لنډه کتنه

د اتو (۸) رکعتو تراویحو په باره کي د غیر مقلدینو سره یوازي او یوازي درې (۳) دلیلونه سته او د هغه درو دلایلو حال دا دئ چي په

هغو کي خو یو د تراویحو په باره کي نه دئ او هغه نور دوه ضعیف دي.

**د غیر مقلدینو لومړی دلیل:**

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روایت دئ:

مَا كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَزِيْدُ فِيْ رَمَضَانَ وَلَا فِيْ غَيْرِهٖ عَلٰى اِحْدٰى عَشَرَ رَكْعَةً يُصَلِّيْ اَرْبَعًا فَلَا تَسْئَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَ طُوْلِهِنَّ، ثُمَّ يُصَلِّيْ اَرْبَعًا فَلَا تَسْئَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَ طُوْلِهِنَّ، ثُمَّ يُصَلِّيْ ثَلَاثًا. (بخاری، ج: ۱، ص: ۱۵۴)

ژباړه: نبي کریم ﷺ به نه زیاتول په روژه او غیر روژه کي پر یوولس رکعته باندي؛ اول به ئې څلور رکعته کول د هغه د اوږدوالي او ښایست په اړه پوښتنه مه کوه، بیا به ئې څلور رکعته کول د هغه د اوږدوالي او ښایست په اړه پوښتنه مه کوه، بیا به ئې دري رکعته کول.

**جواب:**

په دې حدیث کي خو فقط دا سته چي نبي کریم ﷺ به پوره کال یوولس رکعته کول په دې کي خو د تراویحو صراحت نه سته. دا حدیث خو د تهجد لمانځه په اړه دئ د یوولس رکعته څخه مراد اته رکعته تهجد او دري رکعته وتر دي، ځکه چي دا حدیث ټولو محدثینو (امام مسلم، امام ابو داؤد، امام نسائي، امام ترمذي، امام عبدالرزاق رحمهم الله او نورو) د تهجد په باب کي راوړی دئ. او په دې حدیث کي د هغه لمانځه ذکر دئ چي پوره کال کېږي او تراویح خو ټوله کال نه کېږي. که چیري د دې لمانځه څخه تراویح مراد وای نو د غیر رمضان الفاظ به ئې نه وایه او د حدیث په آخر کي سته چي دري رکعته وتر به ئې کول. حال دا دئ چي غیر مقلدین چي اهل حدیث یا

جماعة المسلمين ورته ویل کېږي یو رکعت وتر کوي که د دې حدیث د اولي برخي څخه تراویح مراده وي او عمل ور باندي کوي نو بیا پر دوهمي برخي باندي ولي عمل نه کوي؟ او بله خبره دا ده چي ټولو د حدیث کتابو دا حدیث د امام مالک رحمه الله په سند سره راوړی دئ حال دا دئ چي په خپله امام مالک رحمه الله د اتو رکعتو تراویحو قائل نه دئ.

**د غیر مقلدینو د دوهم او دریم دلیل جواب:**

پاته دوه دلیلونه د "خیر المصابیح" کتاب څخه دي او هغه دواړه ضعیفه دي، ځکه چي په هغه دواړو حدیثو کي یعقوب قمي، حمید الرازي، یحیی بن جاریه ضعیف راویان دي.

# د سهار د فرضو څخه وروسته د لمر د راختو څخه مخکي سنت کول پکار نه دئ

**دلیل:**

عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنِ الصَّلٰوةِ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتّٰی تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰی تَغْرُبَ الشَّمْسُ. (بخاری، ج: ۱، ص: ۸۲، مسلم، ج: ۱، ص: ۲۷۵)

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د سهار د لمانځه څخه وروسته تر لمر راختلو پوري او د ماښیگر د لمانځه څخه وروسته تر لمر لوېدو پوري د لمونځ کولو څخه ممانعت کړی دئ.

# د جنازې په لمانځه کي سورة فاتحه لوستل

د احنافو په نزد د جنازې په لمانځه کي نه سورة فاتحه سته نه یو بل سورت. د اول تکبیر څخه وروسته ثناء، د دوهم تکبیر وروسته درود شریف، د دریم تکبیر وروسته د مړی لپاره دعا او د څلورم تکبیر وروسته سلام دئ. خو غیر مقلدین بیا د جنازې په لمانځه کي سورة فاتحه فرض ګڼي. لاندي یو څو حدیثونه درته ذکر کوو چي د هغه څخه به دا روښانه سي چي د جنازې په لمانځۀ کي سورة فاتحه نه سته.

**۱ - دلیل:**

حضرت ابو سعید مقبري رحمه الله د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه وپوښتل چي ته د جنازې لمونځ څنګه کوې؟ هغه وفرمایل:

كَبَّرْتُ وَ حَمِدْتُّ اللهَ وَ صَلَّيْتُ عَلٰى نَبِيِّهٖ ثُمَّ اَقُوْلُ: اَللّٰهُمَّ... (مؤطا امام مالک، ص:۲۰۹- باب ما یقول المصلی علی الجنازة. مصنف عبدالرزاق، ج: ۳، ص: ۴۸۸)

ژباړه: اول تکبیر وایم بیا د الله جل جلاله ثناء بیانوم، بیا پر نبي کریم صلی الله علیه وسلم درود وایم او بیا مړي ته دعا کوم.

د دې صحیح روایت څخه دا روښانه سول چي حضرت ابوهریرة رضي الله عنه چي کوم لمونځ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه زده کړی وو په هغه کي نه د سورة فاتحې لوستل سته او نه د بل سورت. که چیري سورة فاتحه فرض وای نو حضرت ابوهریرة رضي الله عنه به ضرور ذکر کړې وای.

**۲- دلیل:**

اَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ رضي الله عنه كَانَ لاَ يَقْرَاُ فِي الصَّلٰوةِ عَلَى الْجَنَازَةِ. (مؤطا امام مالک، ص:۲۰۹)

ژباړه: حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه په جنازه کي قرآئت (د سورة فاتحې یا کوم بل سورت) نه کوي.

**۳- دلیل:**

عَنْ نَافِعٍ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ رضی اللہ عنہ كَانَ لاَ يَقْرَأُ فِي الصَّلٰوةِ عَلَى الْمَيِّتِ.
(مصنف ابن ابی شیبه، ج:۳، ص: ۱۸۲)

ژباړه: حضرت نافع رحمہ اللہ فرمايي چي حضرت عبدالله بن عمر رضی اللہ عنہ په جنازه کي قرآئت نه وایه.

**۴- دلیل:**

لَا قِرَاءَةَ عَلَى الْجَنَازَةِ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج:۳، ص: ۱۸۳)

ژباړه: په جنازه کي هیڅ قرآئت نه سته.

**۵- دلیل:**

عَنْ اَبِي الْمِنْهَالِ قَالَ: سَئَلْتُ اَبَا الْعَالِيَةِ عَنِ الْقِرَاءَةِ فِي الصَّلٰوةِ عَلَى الْجَنَازَةِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ؟ فَقَالَ مَا كُنْتُ اَحْسِبُ اَنَّ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ تُقْرَأُ اِلَّا فِيْ صَلٰوةٍ فِيْهَا رَكُوْعٌ وَسُجُوْدٌ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۳، ص: ۱۸۲)

ژباړه: ابو المنهال وايي چي ما د حضرت ابو العالیه څخه په جنازه کي د سورة فاتحې د قرآئت په باره کي وپوښتل نو هغه وفرمایل چي د سورة فاتحې قرآئت خو یوازي په هغه لمانځه کي سته چي هغه رکوع او سجده ولري.

**٦- دلیل:**

د حضرت ابوهريرة رضی اللہ عنہ څخه یو سړی پوښتنه وکړه چي:

"اَقْرَأُ عَلَى الْجَنَازَةِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ؟" چي آیا زه په جنازه کي سورة فاتحه ووایم؟ "قَالَ: لَا تَقْرَأْ" نو هغه وفرمایل چي مه ئې وایه. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۳، ص: ۱۸۳)

**۷- دلیل:**

عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ وَ ابْنِ عُمَرَ رضی اللہ عنہما لَيْسَ فِيْهَا قِرَاءَةٌ. (عمدة القاری شرح صحیح البخاری، ج: ۱۲، ص: ۴۴۸ - باب قراءة فاتحة الکتاب علی الجنازة)

ژباړه: د حضرت ابوهریرة او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دئ چي په جنازه کي هیڅ قرآئت نه سته. (نه سورة فاتحه او نه کوم بل سورت)

**۸- دلیل:**

قَالَ مَالِكٌ رحمه الله قِرَاءَةُ الْفَاتِحَةِ لَيْسَتْ مَعْمُوْلًا بِهَا فِيْ بَلَدِنَا فِيْ صَلاَةِ الْجَنَازَةِ. (عمدة القاری شرح صحیح البخاری، ج: ۱۲، ص: ۴۴۸ – باب قراءة فاتحة الکتاب علی الجنازة)

ژباړه: امام مالک رحمه الله وفرمایل: چي زموږ په ښار (مدینه منوره) کي په جنازه کي د سورة فاتحې ویلو معمول هیڅ ځای نه سته.

**۹ - دلیل:**

د مکې مکرمې حضرت عطاء بن رباح رحمه الله چي د سلو (۱۰۰) صحابه کرامو رضي الله عنهم سره ئې د ملاقات شرف حاصل کړی دئ او ډېر لوي تابعي دئ. د ده څخه په جنازه کي د سورة فاتحې ویلو په باره کي وپوښتل سوه نو ده په ډېره حېرانتیا سره وفرمایل: "مَا سَمِعْنَا بِهَذَا" چي موږ خو دا کله اورېدلې هم نه ده. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۳، ص: ۱۸۳)

# د نارینه او د ښځي په لمانځه کي فرق

د غیر مقلدینو د احنافو سره یو اختلاف دا هم دئ چي هغه د نارینه او د ښځي په لمانځه کي فرق نه مني. د احادیثو په رڼا کي د نارینه د لمانځه کولو طریقه جلا ده او د ښځي د لمانځه کولو طریقه جلا ده. د نارینه او د ښځي په لمانځه کي خو فرقونه ډېر دي خو یو څو فرقه دا دي:

**۱- دلیل:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

يَا وَائِلَ بْنَ حُجْرٍ! اِذَا صَلَّيْتَ فَاجْعَلْ يَدَيْکَ حِذَاءَ اُذُنَيْکَ وَ الْمَرْاَةُ تَجْعَلُ يَدَيْهَا حِذَاءَ ثَدْيَيْهَا. (معجم کبیر طبرانی، ج: ۲۲، ص: ۲۰، حدیث نمبر: ۲۸)

اې وائل بن حجره! کله چې ته لمونځ کوې نو خپل دواړه لاسونه تر غوږو پورې پورته کړه او ښځه دې خپل دواړه لاسونه تر خپلو تيانو (ځيګر) پورې پورته کړي.

**۲- دليل:**

عَنْ عَلِيٍّ کَرَّمَ اللهُ وَجْهَهُ قَالَ: اِذَا سَجَدَتِ الْمَرْاَةِ فَلْتَحْتَفِزْ وَلْتَضُمَّ فَخِذَيْهَا. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۱، ص: ۳۰۲)

ژباړه: حضرت علي کَرَّمَ اللهُ وَجْهَهُ فرمايي چې کله ښځه سجده کوي نو ښه دې سره ټوله سي او خپل دواړه ورنونه دې د نس سره يو ځای کړي.

**۳- دليل:**

عَنْ يَزِيْدِ ابْنِ اَبِيْ حَبِيْبٍ مُرْسَلًا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ مَرَّ عَلٰى اِمْرَاَتَيْنِ تُصَلِّيَانِ، فَقَالَ: اِذَا سَجَدْتُّمَا فَضُمَّا بَعْضَ اللَّحْمِ اِلَى الْاَرْضِ فَاِنَّ الْمَرْاَةَ فِيْ ذٰلِکَ لَيْسَتْ کَالرَّجُلِ. (مراسیل ابو داؤد، ص: ۸)

ژباړه: د يزيد بن ابی حبيب څخه مرسل روايت دئ چې رسول الله ﷺ د دوو ښځو خوا ته تېر سو چې لمونځونه ئې کول نو رسول الله ﷺ هغوی ته وفرمايل: کله چې تاسي دواړي سجده وکړي نو خپل د بدن يو څه برخه د مځکي سره و موښلوئ ځکه چې د ښځي حکم (په سجده کي) د نارينه په شان نه دئ.

# د نابالغ امامت

**۱- دلیل:**

عَنِ الشُّعْبِي رَحِمَهُ اللهُ قَالَ: لَا يَؤُمُّ الْغُلَامُ حَتّٰى يَحْتَلِمَ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج:۱، ص: ۳۸۴)

ژباړه: حضرت شعبي رحمه الله وفرمایل: چي نابالغه تر هغو چي بالغ نه سي امامت دي نه کوي.

**۲- دلیل:**

عَنْ مُجَاهِدٍ رَحِمَهُ اللهُ قَالَ: لَا يَؤُمُّ غُلَامٌ حَتّٰى يَحْتَلِمَ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۱، ص:۳۸۴)

ژباړه: حضرت مجاهد رحمه الله وفرمایل: چي هیڅ نابالغه چي تر څو بالغ نه سي امامت دي نه کوي.

# په یوه مجلس کي درې (۳) طلاقه ورکول

درې (۳) طلاقه که په یوه مجلس یا په یوه لفظ یا په جلا وختو کي ورکول سي هغه درې (۳) طلاقه واقع کېږي. د جمهورو فقهاوو او ائمه اربعه امام ابوحنیفه، امام مالک، امام شافعي او امام احمد بن حنبل رحمة الله علیهم مسلک خو همدا دئ. ابن القیم حنبلی رحمه الله په زاد المعاد ج: ۴، ص: ۵۴ کي ابن رشد مالکی رحمه الله په بدایة المجتهد ج: ۲، ص: ٦١ کي، نووي شافعي رحمه الله په شرح المسلم ج: ۱، ص: ۴۷۸ کي، ابن الهمام حنفي رحمه الله په فتح القدیر ج: ۳، ص: ۲۵ کي، شوکاني رحمه الله په نیل الاوطار ج: ٦، ص: ۲۴۵ کي. د اهل حدیثو لارښود شمس الحق په عون المعبود ج: ۲، ص: ۲۲۹ کي همدا لیکلي

دي چي د ائمه اربعه په نزد درې (۳) طلاقه واقع کېږي. بيا د امام ابوحنيفه رحمه الله او د امام مالک رحمه الله په نزد مکروه تحريمي کار دئ او د امام شافعي رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله په نزد خلاف اولیٰ کار دئ. د دې پر خلاف د شيعه ګانو او د آخري دور د علماوو څخه د علامه ابن تيميه رحمه الله مسلک دا دئ چي د درې (۳) طلاقه څخه يوازي يو طلاق رجعي واقع کېږي. د دې دور د غير مقلدينو په دې مسئله کي د جمهورو علماوو رايه تر شا غورځولې ده او د ابن تيميه رحمه الله د مسلک تقليد ئې په ډېر شدت سره اختيار کړی دئ او عامو مسلمانانو ته دا باور ورکوي چي په يو مجلس کي يا په يوه لفظ کي ورکړل سوي درې (۳) طلاقه يو شمېرل کېږي نه درې (۳). دا مسئله غير مقلدينو په خپل شعائر اسلام کي شامله کړې ده، پښېمانه او شرمنده طلاق ورکوونکو ته دوی تسلي ورکوي او هغه دې ته آماده کوي چي د غير مقلدينو پر فتوا عمل وکړي او درې طلاقه يو طلاق رجعي وشمېري او د خپلي ښځي سره خپل ازدواجي اړيکي پر ځای کړي. (العياذ بالله) حال دا دئ چي د قرآن ظاهر آيتونه، احاديث صحيحه، د صحابه وو د آثارو او فقهاوو د اقوالو څخه دا ثابته ده چي درې طلاقه درې دي يو نه شمېرل کېږي. دا ډېره نازکه مسئله ده ځکه چي کله د داسي ښځي سره رجعيت حلال وګڼي او هغه بېرته د ځان سره کړي د چا پر حرمت چي د ټولو لويو امامانو اتفاق دئ او کومه ښځه چي د شرعيت د حلالوالي څخه پرته په خپله نکاح کي ساتل کېږي دا حرام کار دئ نو بيا چي د دې څخه اولاد پيدا سي د هغوی څه حکم دئ؟ دلته دا خبره کول هم د يادوني وړ ده چي د سعودي عرب لوي فقهي مجلس "هيئة كبار العلماء" په کال ۱۳۹۳ هـ کي د بحث کولو څخه وروسته بالاتفاق دا فيصله وکړه چي په يوه وخت کي ورکړل

سوي درې طلاقه به درې شمېرل کېږي. دا پوره او مفصل بحث په "مجلة البحوث الاسلامية" جلد اول په دریمه شمېره کي په ۱۳۹۷ هـ کي په ۱۵۰ مخونو کي خپورسوی دئ. دا کتاب تاسو پر انټرنیټ باندي پر دې آدرس باندي هم کتلای سي:

*http://www.darululoom-deoband.com/urdu/current/index.html*

ډېر تعجب دئ پر غیر مقلدینو باندي چي په هره مسئله کي دوی د حرمینو د علماوو حواله ورکوي او په دې مسئله کي ئې هغه علماء بالکل شا ته غورځولي دي. اوس پر دې مسئله باندي دلایل وګورئ:

**۱ - دلیل:**

حضرت عویمر عجلانی رضي الله عنه د صحابه کرامو رضي الله عنهم په یوه لویه ټولۍ کي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم و مخته د خپلي ښځي سره لعان وکړي د هغه وروسته ئې وفرمایل:

كَذَبْتُ عَلَيْهَا يَا رَسُوْلَ اللهِ صلی الله علیه وسلم! اِنْ اَمْسَكْتُهَا فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا قَبْلَ اَنْ يَّاْمُرَهٗ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم. (بخاری باب من اجاز طلاق الثلاث، ج: ۲، ص: ۷۹۱. مسلم، ج: ۱، ص: ۴۸۹. ابو داؤد، ص: ۳۰۵)

ژباړه: اې د الله رسوله صلی الله علیه وسلم! که زه دا د ځان سره وساتم نو ما پر دې باندي دروغ وویل د دې ښځه وروسته ئې درې طلاقه ورکړه مخکي د دې څخه چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم حکم ورته وکړي.

**۲ - دلیل:**

امام نووي رحمه الله د امام جریر طبري رحمه الله په حواله لیکلي دئ چي دا واقعه د ۹هـ کال ده او د دې واقعې په باره کي په ابو داؤد کي تصریح ده چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا طلاقونه نافذ کړل، د روایت الفاظ دا دي:

فَطَلَّقَهَا ثَلَاثَ تَطْلِيْقَاتٍ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَاَنْفَذَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ. (ابو داؤد، ج:۱، ص: ۳۰۶)

همدغه (عویمر عجلاني) د نبي کریم ﷺ په شته والي کي دري طلاقه ورکړه او نبي کریم ﷺ هغه نافذ کړل.

په دې حدیث کي دا صراحت دئ چي نبي کریم ﷺ د عویمر عجلاني رضي الله عنه په یوه مجلس کي ورکړي درې طلاقه نافذ کړل دا د دې ښکاره دلیل دي چي په یوه مجلس کي ورکړي درې طلاقه درې شمېرل کېږي.

**۳- دلیل:**

د حضرت محمود بن لبید رضي الله عنه په روایت کي ذکر دي چي:

اُخْبِرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ رَجُلٍ طَلَّقَ اِمْرَاَتَهُ ثَلَاثَ تَطْلِيْقَاتٍ جَمِيْعًا فَقَامَ غَضْبَانَ. (نسائي، ج:۲، ص: ۹۹، مشکوة، ص: ۲۸۴)

ژباړه: رسول الله ﷺ ته د یوه سړي په باره کي وویل سوه چي هغه خپلي ښځي ته درې طلاقه یو ځای ورکړي دي، نو رسول الله ﷺ د غوسې په حالت کي ولاړ سو.

د دې حدیث څخه دا معلومه سوه چي درې طلاقه یو ځای ورکول ښه کار نه دئ څنګه چي امام ابوحنیفه رحمه الله او امام مالک رحمه الله فرمایي: پر دې سربېره نبي کریم ﷺ هغه کالعدم نه وبلل. ابن القیم رحمه الله د ابوبکر بن العربي رحمه الله په حواله لیکي چي "فَلَمْ يَرُدَّهُ النَّبِيُّ ﷺ بَلْ اَمْضَاهُ" (تهذیب السنن، ج: ۳، ص: ۱۲۹) یعني نبي کریم دا (درې طلاقه یو ځای) رد کړي نه دي بلکي نافذ ئې کړل.

**۴ - دلیل:**

حضرت رکانه ﷺ خپلي ښځي ته "طلاق بته" ورکړي او ورته ئې وویل چي ما د یوه طلاق اراده کړې ده، پر دې باندي نبي کریم ﷺ ده ته قسم ورکړي او ځني و ئې پوښتل "وَ اللّٰهِ مَا اَرَدْتُّ اِلَّا وَاحِدَةً" چي آیا تا یوازي د یوه طلاق اراده کړې وه؟ "فَقَالَ رُكَانَة: وَ اللّٰهِ مَا اَرَدْتُّ اِلَّا وَاحِدَةً" حضرت رکانه ﷺ وویل چي په الله ﷻ قسم ما د یوه طلاق اراده کړې وه. "فَرَدَّهَا اِلَيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ" نو رسول الله ﷺ ده ته خپله ښځه ورو سپارل. (ابو داؤد، ص: ۳۰۰. مشکوة، ص: ۲۸۴)

- ❖ د "بته" په لفظ سره درې طلاقه هم ورکول کېږي او یو هم ورکول کېږي نو ځکه رسول الله ﷺ ده ته قسم ورکړي. که چیري درې طلاقه د یوه رجعي په حکم کي وای نو دلته قسم ورکولو ته ضرورت نه وو ځکه چي رجوع خو هغه بیا هم کولای سوای.
- ❖ پر دې موضوع دلایل نور هم ډېر دي لیکن د اوږدوالي د بېرۍ څخه پر همدې څلورو اکتفاء کوو.

# د غیر مقلدینو د دلایلو جوابونه

**د غیر مقلدینو لومړی دلیل:**

په ابو داؤد او بیهقي کي ذکر دئ چي حضرت رکانه ﷺ خپلي ښځي ته درې طلاقه ورکړي وه او نبي کریم ﷺ هغه ته د رجوع حکم کړی وو.

**جواب:**

دا حدیث ضعیف دئ؛ ځکه چي په دې کي بعض بني رافع مجهول راوي دئ. په مستدرک حاک کي درې مجهول راوي تعین په محمد بن عبید الله بن ابی رافع سره سوی دئ کوم ته چي امام بخاري رحمه الله او امام ابو حاتم رحمه الله منکر الحدیث ویلي دي. ابن معین رحمه الله وایي: "لَيْسَ بِشَيْءٍ" دار قطني رحمه الله وایي: "مَتْرُوْكٌ". (میزان الاعتدال، ج: ۳، ص: ٦٣٥. تهذیب التهذیب، ج: ۹، ص: ۳۲۱)

په اصل کي حضرت رکانه رضي الله عنه طلاق بته ورکړی وو نو بعضو راویانو د روایت بالمعنی په وجه طلاق ثلاثه ویلی. ابو داؤد پر دې حدیث باندي "باب فی البتة" قائم کړی دئ او همدې ته ئې راجح ویلي دئ.

**د غیر مقلدینو دوهم دلیل:**

په مسند احمد او بیهقي کي د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دئ چي حضرت رکانه رضي الله عنه خپلي ښځي ته په درې طلاق ورکولو سره ډېر پښېمانه سو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته د رجوع حکم وکړي.

**جواب:**

دا حدیث هم ضعیف دئ ځکه چي د دې په سند کي محمد بن اسحاق او داؤد بن حصین دواړه راویان ضعیف دي.

**د غیر مقلدینو دریم دلیل:**

په مسلم شریف کي ذکر دئ چي طاؤس د ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت کوي چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم، حضرت ابوبکر او د حضرت عمر رضي الله عنهما د خلافت په اولو دوو کلو کي یو ځای درې طلاقه یو طلاق شمېرل کېدي.

**جواب:**

حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کي د دې اته (۸) جوابونه ليکلي دي د هغو څخه دوه دا دي:

لومړی جواب دا دئ چي دا روایت د طاؤس وهم دئ، طاؤس په دې کي متفرد دئ. د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نور ثقه شاګردان دا روایت کوي چي ابن عباس رضي الله عنه درې طلاقه درې بلل. ابن عبدالبر مالکي رحمه الله فرمايي چي "هٰذِهِ رِوَايَةٌ وَهْمٌ وَ غَلَطٌ". (الجوهر النقي علي البيهقي، ج: ۷، ص: ۳۳۷) امام احمد رحمه الله فرمايي چي د ابن عباس رضي الله عنه ټولو شاګردانو د طاؤس د روايت خلاف روايت کړی دئ. (نيل الاوطار، ج: ٦، ص: ۲۴۷)

دوهم جواب دا دئ چي د حضرت ابن عباس رضي الله عنه فتوا د دې مخالفه ده. د کوم صحابي قول چي د هغه د روايت خلاف وي نو هغه روايت خو يا منسوخ بلل کېږي او يا مؤول.

**د غير مقلدينو څلورم دليل:**

په مجموعه فتاوی کي مولانا عبدالحی لکهنوی رحمه الله ليکي چي ښه دا ده چي هغه سړی (يو ځای درې طلاقه ورکولو والا سړی) د يو شافعي عالم څخه پوښتنه وکړي او د هغه پر فتوا دي عمل وکړي.

**جواب:**

په دې کي د شافعيانو او د حنفيانو هيڅ اختلاف نه سته، ټوله د درې طلاقو د وقوع قائلين دي. دا فتوا د جمادی الاولی ۱۲۹۰ هـ ده د دې څخه وروسته په جمادی الاولی ۱۳۰۱ هـ کي د مولانا فتوا د جمهورو سره موافق خپره سول چي په مجموعه فتاوی ج، ۱، ص: ۲۹۳ کي موجوده ده او همدا ډول په عمدة الرعاية شرح وقايه ج: ۳، ص: ٦۳ کي هم مولانا د جمهورو موافق ليکلي دئ.

# د قربانۍ یوازې درې (۳) ورځې دي

**۱-دلیل:**

مَالِکٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِاللّٰہِ بْنِ عُمَرَ رضي الله عنه قَالَ: اَلْاَضْحٰی یَوْمَانِ بَعْدَ یَوْمِ الْاَضْحٰی. (مؤطا امام مالک، ص:۴۹۷. مشکوة، ص: ۳۳۱)

ژباړه: امام مالک رحمه الله روایت کوي د حضرت نافع څخه هغه د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه چې هغه وفرمایل: د قربانۍ درې (۳) ورځې دي: ۱۰، ۱۱، ۱۲ ذی الحجه.

**۲- دلیل:**

اَنَّ عَلِیَّ بْنَ اَبِیْ طَالِبٍ رضي الله عنه کَانَ یَقُوْلُ: اَلْاَضْحٰی یَوْمَانِ بَعْدَ یَوْمِ الْاَضْحٰی. (السنن الکبری للبیهقی، ج:۹، ص: ۲۹۷. بیروت)

ژباړه: حضرت علي رضي الله عنه وفرمایل: د قربانۍ درې (۳) ورځې دي: ۱۰، ۱۱، ۱۲ ذی الحجه.

**۳- دلیل:**

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وفرمایل:

اَلْاَضْحٰی یَوْمَانِ بَعْدَ یَوْمِ النَّحْرِ. (الجوهر النقی، ج: ۷، ص: ۲۹۶)

ژباړه: د اختر څخه وروسته د قربانۍ یوازې دوې (۲) ورځې دي.

**۴- دلیل:**

قَالَ: اَحْمَدُ اَیَّامُ النَّحْرِ ثَلَاثَةٌ مِنْ غَیْرِ وَاحِدٍ مِنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰہِ صلی الله علیه وسلم. (المغنی لابن قدامه، ج: ۱۱، ص: ۱۱۴)

ژباړه: (د امام بخاري رحمه الله استاذ) امام احمد رحمه الله وفرمایل: قربانۍ یوازي درې (۳) ورځي ده او د رسول الله ﷺ د بې شمېره صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه همدا مروي ده.

# په دواړه لاسو د روغبړ کولو ثبوت

په هیڅ حدیث کي داسي نه سته چي "یوازي په راسته لاس مصافحه وکړئ، یا ئې په دواړو لاسو مه کوئ" په دواړو لاسو مصافحه کول ښه کار دئ.

**۱- دلیل:**

بَابُ الْمُصَافَحَةِ. وَ قَالَ ابْنَ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه عَلَّمَنِي النَّبِيُ ﷺ التَّشَهُّدَ وَ كَفِّيْ بَيْنَ كَفَّيْهِ. (بخاری، باب المصافحة)

ژباړه: دا باب د مصافحې (روغبړ کولو) په بیان کي دئ او حضرت ابن عباس رضي الله عنه وفرمایل چي ما ته نبي کریم ﷺ التحیات را زده کړه په داسي حال کي چي زما ورغوی د نبي کریم ﷺ د دواړو ورغوو په مینځ کي وو.

**۲- دلیل:**

اِبْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه يَقُوْلُ: عَلَّمَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَ كَفِّيْ بَيْنَ كَفَّيْهِ التَّشَهُّدَ كَمَا يُعَلِّمُنِي السُّوْرَةَ مِنَ الْقُرْآنِ، اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَ الصَّلَوَاتُ وَ الطَّيِّبَاتُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَ رَحْمَةُ اللهِ وَ بَرَكَاتُهُ، اَلسَّلَامُ

عَلَيْنَا وَ عَلٰى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ. اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَ اَشْهَدُ اَنْ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ. (بخاري، ج: ۲، ص: ۹۲۶، باب الاخذ باليدين)

ژباړه: حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي چي ما ته حضور اقدس صلى الله عليه وسلم په داسي حال کي التحيات را و ښوول چي زما ورغوی د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د دواړو ورغوو په مينځ کي وو او التحيات ئې داسي را زده کړل لکه څنګه چي به ئې د قرآن کريم سورتونه را زده کول. "اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَ الصَّلَوَاتُ..."

**۳- دليل:**

بَابُ الْاَخْذُ بِالْيَدَيْنِ. وَ صَافَحَ حَمَّاد بْنُ زَيْدِ ابْنِ الْمُبَارَکَ رحمه الله بِيَدَيْهِ. (بخاري، ج: ۲، ص: ۹۲۶)

ژباړه: امام بخاري رحمه الله په دواړو لاسو د مصافحې په باب کي فرمايي چي حماد بن زيد رحمه الله عبدالله بن مبارک رحمه الله سره په دواړو لاسو مصافحه وکړه. (دواړه د امام بخاري رحمه الله استاذان دي)

# مخلوق ته "مولانا" ويل

**۱- دليل:**

آيت کريمه: ﴿وَهُوَ كَلٌّ عَلَىٰ مَوْلَـٰهُ﴾ (سورة النحل، آيت: ۷۶)

ژباړه: "هغه پر خپل بادار باندي بوج دئ". الله تعالی د غلام بادار ته" مولا" ويلي دئ.

**۲ - دليل:**

**حدیث:** رسول الله ﷺ **حضرت زید بن حارثه** رضی الله عنه **ته وفرمایل:** "**اَنْتَ اَخُوْنَا وَ مَوْلاَنَا**". **یعني ته زموږ ورور او زموږ مولا یې.** (بخاري، ج: ۱، ص: ۵۲۸. مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۷، ص: ۵۳۳)

**۳ - دلیل:**

**حدیث:** رسول الله ﷺ **غلامانو ته وفرمایل چې هغوی خپل** بادار ته "سَیِّدِي و مَولاَي" ووایي. (بخاري، ج: ۱، ص: ۳۴۶)

**۴ - دلیل:**

**امام حسن بصري** رحمه الله **ته خلکو مولانا الحسن ویل.** (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۸، ص: ۳۰۶. تهذیب التهذیب، ج: ۲، ص: ۲۶۳)

**لهذا یو عالم ته "مولانا" ویل بالکل صحیح دئ.**

# په سورة الحج کې یوازې یوه لومړۍ سجده ده

زموږ په مذهب په سورة الحج کي یوازي لومړۍ یوه سجده ده، ځکه چي د حدیثو څخه همدا ډول ثابته ده. په یوه صحیح صریح غیر معارض حدیث کي دا نه سته چي په سورة الحج کي دوې سجدې دي.
په سورة الحج کي پر یوې سجدې باندي یو څو دلایل ذکر کوو:

**۱- دلیل:**

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنه قَالَ: فِي الْحَجِّ سَجْدَةٌ وَاحِدَةٌ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج: ۱، ص: ۴۶۴)

ژباړه: حضرت ابن عباس رضی الله عنه وفرمایل چي په سورة الحج کي یوه سجده ده.

**۲- دلیل:**

عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ رضی الله عنه اَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ: فِي الْحَجِّ سَجْدَةٌ وَاحِدَةٌ. (مصنف ابن ابی شیبه، ج:۱، ص: ۴۶۴)

ژباړه: حضرت سعید بن جبیر رضی الله عنه وفرمایل چي په سورة الحج کي یوه سجده ده.

**۳- دلیل:**

عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ وَ الْحَسَنِ رضی الله عنهما قَالَا: فِي الْحَجِّ سَجْدَةٌ وَاحِدَةٌ، اَلْاُوْلٰى مِنْهَا. (مصنف ابن ابی شیبه، ج:۱، ص: ۴۶۴)

ژباړه: غیر مقلدین وایي چي په سورة الحج کي دوې (۲) سجدې دي پر دې خبره د دوی دوه دلایل دي.

# د غير مقلدينو د دواړو دلايلو جوابونه

**د غير مقلدينو لومړی دليل:**

عَنْ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ رضي الله عنه قَالَ: قُلْتَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ﷺ! فُضِّلَتْ سُوْرَةُ الْحَجِّ بِأَنَّ فِيْهَا سَجْدَتَيْنِ؟ قَالَ: نَعَمْ! وَ مَنْ لَمْ يَسْجُدْ فَلَا يَقْرَأْهُمَا. (ترمذی. ابوداؤد)

**جواب:**

دا حديث ضعيف دئ؛ امام ترمذي رحمه الله هم دې حديث ته ضعيف ويلي دئ. امام ترمذي رحمه الله فرمايي: "ليس اسناده بالقوی" (ترمذی، ج: ۱، ص: ۱۲۸) په دې حديث کي ابن لهيعه او مشرح بن هاعان دواړه ضعيف راويان دي.

**د غير مقلدينو دوهم دليل:**

عَنْ عَمْرِو بْنَ الْعَاصِ رضي الله عنه قَالَ: اَقْرَاَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ خَمْسَ عَشَرَةَ سَجْدَةً فِي الْقُرْاٰنِ مِنْهَا ثَلٰثٌ فِي الْمُفَصَّلِ، وَ فِيْ سُوْرَةِ الْحَجِّ سَجْدَتَيْنِ. (ابوداؤد. ابن ماجه)

دا حديث هم ضعيف دئ؛ ځکه چي د دې حديث په سند کي عبدالله بن منين مجهول راوي دئ. (ميزان الاعتدال، ج: ۲، ص: ۵۰۸) او حارث بن سعيد هم غير معروف راوي دئ. (ميزان الاعتدال، ج: ۱، ص: ۲۳۴) عبدالحق رحمه الله او ابن القطان رحمه الله دا حديث ضعيف بللی دئ.

# د خصي حيوان قرباني روا ده

ټول امت مسلمه وايي چي د خصي حيوان قرباني روا ده بلكي غوره ده. نبي كريم ﷺ خپله د خصي حيوان قرباني كړې ده ليكن د غير مقلدينو څخه "مسعودي فرقه" چي ځان ته په نامه د "جماعة المسلين" وايي، دوی وايي چي د خصي حيوان قرباني روا نه ده. د خصي حيوان په باره كي واضح ممانعت په يوه حديث كي هم نه دي راغلی، هيڅ داسي حديث نه سته چي په هغه كي دا راغلي وي چي د خصي حيوان قرباني يوازي د رسول الله ﷺ خاصيت دئ. هيڅ داسي حديث هم نه سته چي په هغه كي راغلي وي چي خصي حيوان معيوب دئ.

**دليل:**

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: ذَبَحَ النَّبِيُّ ﷺ يَوْمَ الذَّبْحِ كَبْشَيْنَ اَقْرَنَيْنِ، اَمْلَحَيْنِ، مُوْجَئَيْنِ. (ابوداؤد، ج:۲، ص: ۳۰، باب ما يستحب من الضحايا. مشكوة، ص: ۳۲۸، باب ما فی الاضحية)

ژباړه: د حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د عيد الاضحی په ورځ د دوو (۲) خصي، ښكرو لرونكو، لويو پسو قرباني وكړه.

# د قضاء حاجت په وخت کي قبلې ته مخ یا شا کول منعه دئ

**۱- دلیل:**

عَنْ اَبِیْ اَیُّوْبٍ رضي الله عنه اَنَّ النَّبِیَّ صلی الله علیه وسلم قَالَ: اِذَا اَتَیْتُمُ الْغَائِطَ فَلَا تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ وَ لَا تَسْتَدْبِرُوْهَا بِبَوْلٍ وَ لَا غَائِطٍ. (بخاری، ج: ۱، ص: ۵۷. مسلم، ج: ۱، ص: ۱۳۰. ترمذی باب فی النهی عن الاستقبال. ابن ماجه باب الاستنجاء بالاحجار. و اللفظ لمسلم)

ژباړه: د حضرت ابو ایوب انصاري رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چي کله تاسو بیت الخلاء ته راسي نو د قضاء حاجت په وخت کي قبلې ته مخ او شا مه کوئ.

**۲- دلیل:**

عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضي الله عنه عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ: اِذَا جَلَسَ اَحَدُکُمْ عَلٰی حَاجَتِهٖ فَلَا یَسْتَقْبِلَنَّ الْقِبْلَةَ وَ لَا یَسْتَدْبِرْهَا. (مسلم، ج: ۱، ص: ۱۳۱)

ژباړه: د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چي کله ستاسو څخه یو څوک د قضاء حاجت لپاره کښېني نو هغه دي هیڅکله قبلې ته مخ نه کوي او هیڅکله دي شا هم قبلې ته نه کوي.

**۳- دلیل:**

قَالَ اَبُوْ اَیُّوْبٍ رضي الله عنه فَقَدِمْنَا الشَّامَ فَوَجَدْنَا مَرَاحِیْضَ قَدْ بُنِیَتْ قِبَلَ الْقِبْلَةِ فَنَنْحَرِفُ عَنْهَا وَ نَسْتَغْفِرُ اللهَ. (بخاری، ج: ۱، ص: ۵۷.

مسلم، ج: ۱، ص: ۱۳۰. ابو داؤد، باب کراهیة استقبال القبلة. ترمذی باب فی النهی عن الاستقبال)

ژباړه: حضرت ابو ایوب انصاري رضي الله عنه فرمایي چې موږ چې کله شام ته راغلو نو موږ بیت الخلاء ولیدل چې د قبلې خوا ته جوړې سوي وې، موږ به خپل اړخ بدلوي او د الله جل جلاله څخه به مو استغفار کوي.

د پورته ذکر سوو حدیثو څخه دا معلومه سول چې د قضاء حاجت په وخت کي د عذر څخه پرته قبلې ته مخ یا شا کول په هر صورت کي ناروا دئ که په آبادي کي وي که په صحرا کي وي. نبي کریم صلی الله علیه وسلم د دې څخه په سختي سره ممانعت کړی دئ، همدا وجه ده چې صحابه کرام رضي الله عنهم د قضاء حاجت په وخت کي د دغه کار څخه پرهېز کوي. او که چیري به بیت الخلاء د قبلې پر خوا جوړه سوې وه نو دوی په خپل اړخ بدلوي. لیکن د دې صحیح، صریح، مرفوع حدیثو پر خلاف غیر مقلدین وایي چې د قضاء حاجت په وخت کي قبلې ته مخ یا شا کول بالکل روا ده مکروه هم نه ده.

# تقلید شخصي واجب دئ

یو د هیڅا تقلید نه کول یعني غیر مقلد کېدل دئ پر دې ډول انسان د خپل نفس تابع کېږي، کومه مسئله یا کوم حدیث چې ئې ښنگه زده کړي هغه ډول ور باندي عمل کوي. په هندوستان کي د انگرېزانو د راتگ څخه وروسته غیر مقلدین پیدا سوه د دې څخه مخکي غیر مقلدین نه وه.

دوهم تقلید کول دئ یعني یو سړی د یو فقیه، امام، مجتهد پر علم باندي اعتماد کوي. بناء پر دې چې هغه به په شرعي مسایلو د

قرآن او د حدیث په رڼا کي صحیح پوه سوی وي نو د دې فقیه، مجتهد د مسایلو اتباع کوي په داسي حال کي چي دی دا حق بولي ا و هغه مجتهد ته عقیده لري نو د هغه څخه د دلیل طلب کولو پرته د هغه اتباع کوي که څه هم پر خپل ځای د هغه مجتهد سره پر هغه مسئلو باندي دلایل موجود وي. اوس که یو څوک د یوه فقیه تقلید نه کوي بلکي یوه مسئله د یوه مذهب څخه اخلي، بله مسئله د بل مذهب څخه، په زړه کي چي یې هره مسئله خوښه سول هغه واخلي دې ته تقلید مطلق ویل کېږي او دا د گمراهۍ لوي سبب دئ. ځکه چي دا هم د غیر مقلدینو په شان د نفس غلام سي کومه مسئله چي ئې د زړه خوښه سي هغه اخلي. څنگه چي ډاکټر اسرار احمد او د هغه تربیه سوی شیبا احمد. داکټر اسرار احمد په خپلي میاشتني رسالې میثاق ص: ۵۰ ستمبر، ۱۹۸۲ ﷺ کي لیکي دئ چي: "زه د پنځو نیم مقلد یم. څلور خو د اهل سنت په اتفاق څلور امامان دي او پنځم امام بخاري دئ" د پنځو په دائرې کي ئې د نیم مقلد نوې فقهي اصطلاح جوړه کړه د تقلید مطلق په سبب خپله هم گمراه سو او نور ئې هم گمراه کوي. (که څه هم د دوی دوو د گمراه کېدو لوي سبب دا دئ چي دا دوه حضرات په عقائدو کي د مودودي پیروي کوي)

او که د یوه فقهي امام تقلید وکړل سي نو دې ته تقلید شخصي ویل کېږي. د یوې فقهي پابندي واجبه ده کنې نو انسان د خود غرضي په دام کي اخته کېدلای سي.

د تقلید ضرورت ځکه پیدا سو چي خلک د نفس پیروی شروع نه کړي او گمراهان نه سي. د لویو امامانو څخه مخکي د "خیر القرون" دور وو هلته به خلکو د دې پر ځای چي خپله خوښه وچلوي د صحابه

کرامو رضي الله عنهم څخه به ئې پوښتل د دې څخه وروسته یا به خپله مجتهدین وه او یا به ئې د یو امام تقلید کوي.

تعجب خو پر دې خبره دئ چې ټول ائمه محدثین مقلدین وه. امام بخاري، امام مسلم، امام ترمذي، امام ابن ماجه، امام نسائي، امام بیهقي رحمة الله علیهم دوی ټولو د امام شافعي تقلید کوي او امام ابو داؤد د امام احمد بن حنبل رحمه الله تقلید کوي او محدث یحیی بن معین، محدث یحیی بن سعید القطان، محدث وکیع بن جراح، محدث امام طحاوي، محدث امام زیلعی او محدث یحیی بن ابی زائده رحمة الله علیهم مسلکه وه. کله چې غیر مقلدین زموږ د مقلدینو علماوو د قرآن کریم ترجمه معتبره نه ګڼي نو بیا د هغوی پر مرتب کړو احادیثو باندې په کوم دلیل باور کوي؟ د حدیث په کتابو کې د مرتب سوو احادیثو ټوله راویان د یوه نه یو امام مقلدین وه. د تقلید پر وجوب باندې د قرآن او حدیث څخه ډېر دلایل سته د دې د مطالعې لپاره د مفتي محمد تقي عثماني صاحب کتاب "د تقلید شرعي حیثیت" خامخا وو ایاست.

# ماخذ و مراجع


| | |
|---|---|
| ۱. بخاري. | قدیمي کتب خانه / کراچي. |
| ۲. مسلم. | قدیمي کتب خانه / کراچي. |
| ۳. ابو داؤد. | ایچ ایم سعید کمپني. |
| ۴. ترمذي. | قدیمي کتب خانه / کراچي. |
| ۵. نسائي. | قدیمي کتب خانه / کراچي. |
| ۶. ابن ماجه. | المیزان. |
| ۷. مؤطا امام مالک رح. | قدیمي کتب خانه / کراچي. |
| ۸. مؤطا امام محمد رح. | قدیمي کتب خانه / کراچي. |
| ۹. طحاوي. | مکتبه رحمانیه / لاهور. |
| ۱۰. مصنف ابن ابی شیبه رح. | مکتبه امدادیه / ملتان. |
| ۱۱. مشکوة. | قدیمي کتب خانه / کراچي. |
| ۱۲. میزان الاعتدال. | مکتبه دار المعرفة/بیروت -لبنان. |
| ۱۳. کتاب الآثار. | امدادیه / ملتان. |


**د تعلیم الاسلام راډیو د ویب پاڼې له خوا**

www.Taleemulislam-radio.com


د پوهي خپرندويي ټولني چاپ سوي آثار:
په اسلام کي د ږيري حکم
د قبر د عذاب حقيقت
د اسلامي نومونو لارښود
د ملغلرو امیل
د سرور کائنات ﷺ یادونه
د انځورګر راز
کندهاري شعراء (۴ټوکه)
بایزد روښان او د هغه پاڅون
دوه صوفي شاعران
د اسلامي معلوماتو ذخیره
وروستی وصیت
د نېکيو غرونه